# ریالیست جاسوس

(طنزونه او لنډې کیسې)



حفیظ الله تراب

۱۹۹۴ لمریز کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریالیست جاسوس

## ( د طنزونو او لنډو کیسو ټولګه)

حفیظ الله تراب

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ریالېست جاسوس

لیکوال: حفیظ الله تراب

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۴۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**


اودسونه ........................................ ۱
ایډوکسي که ماډرن شیطانېزم .............................. ۴
ببر برېت ........................................ ۸
بې مانا غزل ........................................ ۱۲
پلاستیکي زمری ........................................ ۱٦
تاکتیکي شا ته تګ ........................................ ۲۲
د اخرت محاکمه ........................................ ۲۵
د پنجاب امام ........................................ ۲۸
د جونګړې بیرغ ........................................ ۳۳
د جشن درواغ ........................................ ۳۷
د خرو راتلونکې ........................................ ۴۲
د شاعرۍ تباهي ........................................ ۴٦
د شرافت حرامیتوب ........................................ ۵۱
د غم خوشالي ........................................ ۵٦
د ګرداړي کوټ ........................................ ٦۱
د مفتي داړې ........................................ ٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د درواغو بوساړې..............................................۷٦**

**د کمود فریاد..............................................۷۹**

**ربښتینی ستاینلیک..............................................۸۲**

**ریالېست جاسوس..............................................۸۷**

**زه خو ماستر یم..............................................۹۳**

**زه ښکلې پټاقۍ یم..............................................۹۸**

**سلاکاري یانې پساتېزم..............................................۱۰۴**

**شامي قبر..............................................۱۰۷**

**لالهانده مخلوق..............................................۱۱۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلابېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحريك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اودسونه جنتونه

دا نو کومه توره نه ده، چې موږ خپل کورونه، خپلوان، دفتر، بازار، ډودۍ یا لوی لوی شیان پېژنو، خو له هغې ناخبره یو، چې به لږ سوچ سره هم پېژندل کېدای شي، زه ساینس او ټېکنالوژي نه یادوم، له هغې نه خو به تر قیامته بې برخې او ناخبره یو، د چرګ یې د مالګې له څټلو سره څه؟!

خو د خواشینۍ ځای دا دی، چې زموږ لوی لوی سیاسي غټ سري لا په دې نه پوهېږي، چې زه پر کومه روان یم او یا هم تګ همداسې وي؟!

که دغو خلکو لاره پېژندلای، نو تا او خدای اوس به موږ همداسې وږي، تږي، اړ او د خدای په قهر ککړ وای؟! زموږ دا هر څه داسې په یاد دي، لکه پرون چې تېر شوي وي. د ثور کودتاه چې وشوه، نو پلویانو یې بې له ترینګلو شعارونو، وژنو او هوایي خبرو بل څه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرل دوی په خپله لار کې دومره افراط کاوه، لکه مارکس چې د دوی شاګرد او ټولنه يې تر شوروي اتحاد هم کمونېزم ته ډېره مناسبه وي. د روسانو په راتګ سره يې خلك لاوترهول او خبره دې ته ورسېده، چې هېواد لوټې لوټې او د بربادۍ پر ګړنګ ودرېد.

تر هغوی وروسته چې د مجاهدينو په نامه د ناخوالو، سقاوت او نادودو کوم سيريالونه پيل شول، نو د اسلام په تاريخ کې به ساری نه لري.

ورپسې طالبان هغه ګلونه وو، چې د دې دردېدلي ملت نه يې هغه د ساه ايستلو واك هم واخيست. ډېر ارزښتونه يې دړې وړې او يو توريالی ولس يې په خنثی مشکل موجود بدل کړ.

د خدای کارونه وو، د ډېموکراسۍ مصنوعي ناوې د لوېديځ پر اوږو راوړل شوه. دغې ناوې ته ډېرو داسې ټټر وواهه، لکه سل کاله يې چې نيکونو په فرانسه او ياهم لندن کې د دغه ارمان د پلي کولو لپاره تېر کړي وي. د دغې ناوې لباس او ګاڼې دومره ارزښتمنې وې، چې د پاللو پر ځای يې په چور او تالان بسم الله پيل شوه. د دې پير سياستوالو او ډلو يې دا ناوې داسې بربنډه کړه، چې اوس يې پټولو ته حيران دي. هغوی نه دا چې دا خوارکۍ ناوې په خپلو نادودو سپکه سپانده کړه، بلکې ټول ولس يې پر يوې داسې موړ ودراوه، چې نن ورځ نه وروسته او نه مخکې تلای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته راته خپلو سیاستوالو نادودو او نالوستیو هغه د ملك صیب کیسه رایاده کړه، چې د مقعد لغت یې نوی زده کړی و، خو له څو ورځو راهیسې یې دې ته سودا وه، چې څنګه او په کوم ځای کې یې استعمال کړي. اخر پرې خدای مهربانه شو او بله ورځ چې د خلکو سره په یوې جرګه کې ناست و، نو لومړی یې یو اکټ وکړ، بیا یې په لوړ غږ خلکو ته مخ راواړوه او په داسې حال کې چې خپله د مسواکه ګوته یې په غوږ کې دننه کړې وه، وویل:

ـ که ستاسې اجازه وي، دا مقعد مې لږ ګروم!

له دې سره خلك حیران او ځینو وخندل، خو یوه په کې وویل:

ـ ملك صیب! لغت دې سهي، خو ځای دې غلط کړی دی!!

همدا ټوکه زموږ د ولس او خلکو سره د روانې لانجو مشرانو او چلوونکو پیل کړې ده، نه د دیموکراسۍ پلویان په دې پوهیږي، چې په دې خاوره کې څه لوبې روانې او لا راتلونکې دي او نه هم د اسلام په نامه جنګېدونکي په دې پوهیږي، چې زه د چا لپاره جنګیږم؟! دغو نوابغو ته په کار ده، چې لومړی اصلي ځایونه وپېژني او بیا دې د دې خاورې د اصلي دښمنانو پر وړاندې توره راواخلي، د خپلو خلکو په وینو اودسونه او بیا جنتونه ګټل خو له عقله لرې خبره ده!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایډوکسي که ماډرن شیطانیزم

امریکایانو ته موږ هغه د یعقوب (ع) د زماني خلك ښکارو، خو که له ربښتیاو سترګې پټې نه شي او تاسې کله په سهار موده کې د پل خشتي د جومات تر څنګ تېر او خلکو ته وګورئ، نو راساً به مو د یوسف (ع) ایرانی سیریال سترګو ته ودرېږي او ډېری افغانان به درته په کړو وړو کې کټ مټ د هغه، هغه فلمي ورونه ښکاره شي.

دا خبره په ښکاره سهي غوندې ښکاري، خو په حقیقت کې په دې روغه نه ده، چې په اوس وخت کې هر افغان، موټر،موبایل، تلوېزون او نور ډېر لږ لږ پېژني، خو د غریبۍ دې رنګ ورك شي، د انسان پر معنویاتو څه چې د بدن پراناتومۍ یې هم ناوړه ګوزارونه کوي.

څه خو د امریکایانو خپل نظر و او څه هم ځینو چالاکو افغانانو موږ هغوی ته داسې وروپېژندلو، چې باید موږ ته هر څه له الف، ب نه پیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو کارونو په لړ کې یو هم د ایډوکیسۍ په نامه فعالیت دی، چې له څو کلونو را په دېخوا یې په هېواد کې چارې پیل کړي او ګڼې موسسې همدې ته ناستې او تر دې نامه لاندې زموږ نومونه باسي.

د ایډوکیسۍ لغوي مانا ده، وکالت، حق غوښتنه او اوس دلته په دري ژبه کې په دادخواهۍ مشهوره ده. د دې مسلك كاركوونكي ډېری د پاخه عمر خاوندان او هغه د چا خبره ډېر پاخه پتیر خلك دي. که په جلسه کې ورسره څوك کېني، نولومړني څو ساعتونه به مو ورسره په عجیبه چوپتیا کې تېر او ورپسې خبرو ته یې چې وګورئ، نو بیا به هم ورته حیران شئ. د بېلګې په توګه، دوی به وایي، چې څنګه مو خوښه ده، چې راروانه اونۍ کې د ولسمشر سره د هوا د ککړتیا په برخه کې وګورو؟ له دې سره به د خلکو د تنفسي سېستم نه دفاع وکړو. د دې خبرې تر کولو وروسته به د ناستې ټول ګډونوال وایي: یاره عجیب نظر مو ارشاد کړ. په همدې توګه ولسمشر سره د لیدو کسان وټاکل شي او وروسته یې د لیدلو مبارزه پیل شي.
زما سره پوښتنه دا ده، چې د هر کار لپاره په هر هېواد کې یوه مسووله اداره وي. که چېرته یې مشر یا مسوولین په کار پوه او خدمتګار خلك وي، نو بیا پردۍ جرابه کې پښه منډل خو ډېر بې مناسبه کار دی.که دوی دا استدلال کوي، چې موږ په هغه صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دا کار کوو، چې هغوی يې ونه کړي. په دې وخت کې بيا هم دا د حکومت وجيبه ده، چې بايد د خپلو چارو څارنه وکړي.
نورو انسانانو ته د دوی تعليمات د بېلګې په توګه داسې دي، چې انسان بايد اوبه وڅښي، ولړه ښه شی نه دی، ښه خوراك سخت خوند کوي، يا په اونۍ کې يو ځل ښه چکر وهل او بيا کړايان او انار خوړل ګوره ښه کار دی. په دې ځای کې يوه کيسه رايادة شوه:
وايي يو وخت په يوه غريزه سيمه کې څو کسه ناست او د ماښام د لمانځه وخت و. په دې کې له لرې نه يو مسافر راښکاره شو، چې سپينې جامې يې اغوستې وې. چې راورسېد، نو سلام يې وکړ، ناستو کسانو کې يوه نورو ته مخ ورواړاوه:
ـ دا دی ملا صيب راغی، جمعه به راکړي. مسافر خوارکی هم له شرمه مخکې شو، جمعه يې په ټپلو ټپلو ورکړه، خو تر لمانځه وروسته دعا يې زده نه وه. مسافر لاسونه لپه او په لوړ غږ يې وويل:
ـ ښه، ښه دي، ټول يې پېژني او څوك چې بد کوي، تر هغه به لوی بې ناموسه او دوس نه وي.
د پورته کيسې په پام کې نيولو سره که د هغوی تعليماتو ته وکتل شي، نو په دې خبرو خو د نن وخت يوه تعليميافته شادو هم پوهېږي. بيا نو په هغه او دغو خبرو د وخت او پانګې لګول د څه لپاره؟!
خو د ايډوکيسی تر ټولو د فکر وړ فعاليت دا دی، چې يوه ځوانه جنۍ تنبيه کړي تر څو د خپل پلار يا مشر ورور نه خپل حقوق بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څومره کلك سترګې وغواړي؟!. او یا هم انړور کولای شي، چې ناروغې خوابنې ته ووایي، چې چټك ځان ته چای پخپله تیار کړه او یا دې هم سر په سرو اوبو پرېمینځه، زه اوزګاره نه یم.
د دوی د دې ټولو هلو ځلو سره یادې اداري نه شي ثابتولای، چې دوی دې چا ته خپل حق اخیستی وي، بلکې د خلکو حقونه ورځ تر بلې تر پښو لاندې کېږي. په پخوا وختونو کې نه ایډوکیسي وه او نه میډوکیسي، خو چې نظام، نظام و، هر چا خپل حق پخپله اخیستی شو.
آیډوکیسي بنایي په لوېدیزه نړۍ کې خپل ارزښت ولري، خو زموږ په ټولنه کې پرته له شخړو او جنجالونو د رامنځ ته کولو نه نورې پایلې نه لري، ټولنیز ارزښتونه له منځه وړي او په هر کور کې یو د بل غوښو ته په تدریجي ډول کېنوي، ځکه نو دلته پرته له یو ماډرن شیطانته بل مفهوم نه شي لرلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ببر بریت

یاره هغه ورځې چې مې اوس هم رایادې شي، نو زړه کې ووایم، چې رښتیا موږ د سین د کاڼو غونډې کلك او سولیدلي یو. د دنیا کومې نادودې وې، چې ومو نه لیدې؟!

سره له دې چې د پېښور د کلونو پر مهال د مېږې غونډې بې ازاره وو، لاره به مو پوکوله او پرې تللو به ، خو که به میاشت نیمه کې د هغه ځای پر پولیسو خدای وربرابر کړو، نو د پولیس لوري ته غوږ به مو له وېرې رېږدا پیل کړه. که ور وبه دې کتل، نو په دې به یې نیولې، چې ولې دې راوکتل او که به دې نه ورکتل، زړه کې به مو ویل، چې ور ونه ګورې، نو د بل څه ګومان به درباندې وکړي، بیا دې هم نه پرېږدي. لنډه دا په کتلو او نه کتلو دواړو کې په غم اخته وو. زما د یوه ملګري خبره هغه وخت هم د کاڼي کرښه وه، هغه به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ که نوره هېڅ ګناه هم درکې نه وي، نو د پېښور پولیس درته دا بانه کوي، چې پوزه دې ولې پیته او یا یې سر نری دی. زر شه تانې ته ځو.

موږ په هغه زور او قوت چې مو درلود ، له یوه غونجي او پوډري غونډې پولیس سره دا استدلال هم نه شو کولای، چې هلکه ستا یې زما د پوزې د سر او یا نرې غوږ پورې څه؟!

بس همدا ګناه مو وه، چې موږ یې پردي ګڼلو او په پردي وطن کې د انسان عزت نه وي.

یو وخت داسې راغی، چې ډېره موده د پېښور د پولیسو له شره خدای په امان کې ساتلی وم، په ښار کې روان وم، زړه کې مې وویل، ډېر وخت کېږي، نیولی یې نه یې، راځه نن خو په پولیسو ځان پخپله ونیسه. له نېکه مرغه یو خوارنجوکی پولیس په ارت زاړه پتلون کې د جوارو د پټي د هغه ګوډاګي غونډې ولاړ و. کله چې یې له څنګه تېرېدم، نو په متبسم انداز مې وروکتل. له دې سره یې په تروه تندۀ وویل:

ـ هلکه کابلیه ودرېږه!

ودرېدم او هغه په پلټنه پیل وکړ. لاسونو ته مې په ځیر د دې لپاره ورکتل، تر څو په کوم جېب کې مې چرس وانچوي. چې څه یې ونه موندل، نو په تونده لهجه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سه کار کی؟

په نرمۍ مې ورزیاته کړه:

- ډاکټر یم.

له دې سره یې په ریشخند ځواب راکړ:

- یار مهاجر به څه یي او ډاکټر به یې څه یي؟!

خدای شته په دې سپکاوي ډېر خپه شوم، د تللو پر وخت مې لړ بد بد وروکتل. خو هغه راته د یوه جنګسالار په توګه وویل:

- راګوره مه، چې اوس به دې تاڼې ته بوځم. د تاڼې د غړ په اورېدو مې دوه خپلې او دوه پردۍ کړځ.

د هماغې ورځې پر ماسپښین جلال اباد ته راورسېدم. تلوېزون نوی فعال شوی و، د مرکې بلنه یې راکړه. د خپرونې پر وخت د کوربه د ټولو پوښتنو پر مهال به مې د هغه پولیس خبرې سترګو ته درېدې، ما ته د هغه او د دې ځای په غبرګون کې د اسمان او غره هومره توپیر جوت شو. په همدې ورځ زه یو بې رتبې پولیس هلته توهینولم او په خپله خاوره کې مې دومره درناوی کېده، چې د یوه معزز مېلمه په څېر یې زما هرکلی وکړ. ځکه نو وایم چې پردی کټ تر نیمو شپو او تیږه پر ځپل ځای درنه ښکاري. سبا به تاسې سره هم داسې چلند کېږي، که نور هېڅ نه وي، نو په دې به مو ونیسي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده، ړیره خو دې اوړده، خو دا بریت دې ولې ببر دي؟!کابلیه مخکې شه!

نو ځکه وایم، چې نور راځه! ګوره ما ډېر برېتور او تورزن ولیدل، چې په پای کې د خپلو خوشباوریو له امله له اوږدو برېتونو نه پردیو خلاص او د هغوی هر څه یې لنډې بوچې او ډېر لویان یې ډېر کوچني کړل!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې مانا غزل

د ژوندانه په روانو غمونو کې چې اوس هم کله هغه ورځ رایاده شي، نو له ځانه سره یوه بې غږه خندا وکړم. له دې سره مې زړه سپك شي. کور یې اباد دا د هماغو ښاغلیو برکت دی، چې تر اوسه یې پرته له کومه فیسه د بوډۍ په خندا عادت کړی یم.

په لومړیو ورځو کې خو مې کله هم دې ته زړه نه ښه کاوه، چې زه دې ستېج یا دریځ ته پورته شم، پوخ پتیر دې شم او بیا دې په خاص مکر په شعر ویلو پیل وکړم، دا کار پوره سپین سترګي غواړي، له تاسې څه پرده، دا جرئت راکې نه و او نه شته.

ما دا هم اورېدلي وو، چې که څوك خپله کومه کیسه یا غزل د دغو موشګافانو پر وړاندې د کره کتنې په غونډه کې ووایي، نو تر څو چې له ځایه راکښته کېږي، اثر به یې دغلبېل په شان چآن چاڼ او د لیکوال او یا شاعر روغتیایي حالت به داسې وي، چې باید پرله پسې درې میاشتې د یوه رواني ډاکټر ګولۍ وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه کار د برسېرن صیب سره هم وشو.هغه خوارکي لاکیسه پوره نه وه تمامه کړې، چې په نوبت سره پرې د نقد داسې ګوزارونه پیل شول، چې له کلکو سوکانو نه په هېڅ وجه کم نه وو. خو تر ټولو په زړه پورې دا وه، چې د هر کره کتونکي احساسات به په مخ کې داسې وو، لکه د برسېرن صیب پلار چې د هغوی نیکونه په ډېرې بې رحمۍ په شهادت رسولي وي. که د هغه پر ځای بل څوك وای، نو پرته د چره ییز له ډزو یې والله که ورسره بل څه کړي وای، ښه و، برسېرن صیب ورته تر پایه یوازې حیران حیران کتل او ښایي په زړه کې به یې دا قسم کړی و، چې بیا به تر مرګه رانشم، بس یو جك وو، رانه ووهل شول. خو د دې ټولو نادودو سره سره مې یوه ورځ زړه کې وویل:

ـ راځه ته خو دې هم یوه ورځ سترګه پخه کړه، غزل دې کره کتنې ته وړاندې کړه او بیاهماغه ورځ هم راورسېده. په هغه ورځ مې له هره پلوه ځان د برسېرن صیب په څېر د هېواد د نوموتو کره کتونکو انداختونو ته سپر کړی و، خو د تمې خلاف ما سره داسې ونه شول، بلکې د غزل تر ویلو وروسته یې چې زما هر بیت ته د تخیل، تصویرونو، نازکیو او نوښتونو کوم القاب ورکړل او بیا یې زه وستایلم، نو ساری یې نه و. له ډېرې حیا مې سترګو کې اوښکې ډنډ شوې. حیران شوم چې زما دا موزونې پرتې څنګه دومره وستایل شوې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو راسره د انډيوالۍ د مزو د غځولو هڅه وکړه، زه ورته د نن وخت کاظم خان شيدا ښکاره شوم، خو ما ته به زړه کې يوه پټه خندا راغله. زما هغه نامتو غزل چې د کره کتنې له جوسر ماشينه روغ رمټ او خورا بريالی راووت داسې وو:

**د عجيبو تماشو په منځ کې تار يم**
**لکه بنګ ګرم د حسن په بازار يم**
**په ويدو د حسن لمر کله ډوبېږي**
**زه د ويښو په احساس کې يو مدار يم**
**ستا د عشق د نزاکت په استغنا کې**
**ولې ولې به زه وايم چې هوښيار يم**
**چې خندا مې په موسکا کې کړه دننه**
**اوس خو ومنه چې زه څنګه فنکار يم**
**دحيا څادر د خوب په پښو راکش کړه**
**پروا مه کړه زه د ضد غونډې بيدار يم**
**ميخورانو پيالې تشې له شيدو کړې**
**زه په پوله د خودۍ کې لاايسار يم**
**( برستن مله) ستا خواږه به عبث نه ځي**
**زه دې ګوره په هر خوب کې چوکيدار يم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې ډېرو رانه دا غزل وغوښت، زړه مې و، چې ورته ووايم: ظالمانو! ما پرېږدئ چې نور په يوه يوازې ځای کې د خپل بې مانا غزل درناوي ته ښه شېبه وخاندم. تاسې يې په خيالونو فکر کوئ او زه به ستاسې کره کتنې ته!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلاستيکي زمری

له ډېرو هلو ځلو وروسته چې يې د دفتر مخې ته ورسېدم، نو له حيرانۍ داسې وم، لکه ساه چې رانه ختلې وي. د شانداري ماڼۍ مخې ته يې په لسګونو برچېك عسکر ولاړ وو. د دفتر ګرد چاپېره يې د نورو کارکوونکو په لاسونو کې مخابرې او له سليقې داسې ښکاره کېدل، لکه د کوم هېواد د بهرني وزارت کارمندان چې وي، د ډېرو تورې عينکې په سترګو او داسې ښکاره کېدل، لکه د هغه خدمت چې خپل تر ټولو وياړلې ارمان ګڼي.

د تېرو وختونو دورې ته لاړم، د هغه، هغه بخوانۍ څېره مې داسې سترګو ته ودرېد ، لکه همدا نن چې مې ليدلې وي. رحمت، چې د جبهې ډېرو خلکو به رحمتی باله، له هماغه وخته يو چالاك هلك و. د مرکز د خلکو لاس به پرې سپك و. له لرې ځايه په بوشکو کې په خرو اوبو راوړل سره له دې چې يو ستونزمن کار و، خو هغه به دا چاره په اخلاص کوله. د دې په بدل کې به يې دا امتياز درلود ، چې جنګ ته به نور تلل او دې ترې معاف و. سره له دې د جبهې نورو غړو ورسره دومره خواخوږي نه لرله. د هغه په سترګو کې يو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرموزه لوچکه چالاکي او شیطانت ښکاره کېده، ښایي په همدې به د نورو نه خوښېده.

یوه ورځ یې له یو بل مجاهد سره په څه شخړه شوه، نږدې و، چې د رحمت کار تمام کړي، په منځ کې یې ورولېدم او په لږ څه کې مې له مرګه وژغوره. له دې وروسته به پر هغه نور هم ښه لګېدم او بیا داسې وخت راغی، چې په کلونو کلونو سره بېل، خو د قسمت سپرو څه باندې دوه نیمې لسیزې وروسته د هغه محل ته راوستم.

په همدې فکرونو کې وم، چې دوه لوکس کسان راغلل، زه یې د جنت په څېر ماڼۍ کې د هغه د خونې تر دروازې بدرګه کړم او راته یې وویل:

ـ مهرباني وکړئ! له دې سره هغوی لاړل او ما کوټې ته سر دننه کړ. کوټه نه وه، داسې څه وو، لکه هر څه چې یې د نړۍ د ډېرو سترو او نومیالیو زرګرانو او هنرمندانو جوړ کړي وي، د چت له سره رنګارنګ قندیلونه راځوړند و، پردې، چوکۍ، لنډه دا هر څه داسې ښکلي، منظم او مرتب و، لکه د فرانسې نجونو چې برابر کړي، وي، رحمت له داسې یوې چوکۍ په موسکا راپورته شو، چې کټ مټ پرې د پخواني روم د امپراطور د تخت ګومان کېده. په لومړي ځل راته د هغه په وړاندې ځان وړوکی ښکاره شو. ګرم نه وم، د هغه په یوه خبره به اوس په لسګونو رسنیو په ساعتونو ساعتونو تبصرې کولې، هغه اوس د ټول هېواد په برخلیک کې اساسي ونډه درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کور یې اباد هغه په پوره اخلاص غاړه راکړه. لکه مړی په چوکۍ ورته مخامخ کېناستم. یو ځل مې د هغه بوشکې او خر سترگو ته ودرېد، خو ژر مې له ځانه سره ولاحودو کړه. ما باید همداسې کړي وای، رحمتي اوس له هره اړخه د یوه با سلیقه ولسمشر په څېر ښکاره کېده. چای راته واچول شو، خو کارکوونکي ډېر ژر ووت.

ـ ښه ژوند ښکه تېرېږي، څه وختونه وو، لاړل.

له ځانه سره مې غیر ارادي موسکا وکړه:

ـ هو والله، بس ژوند دی کله ښکه او کله ښکه. خو ټولو نه مخکې درته د دې هر څه مبارکي وایم

په اوږه یې وړوکی ټپ راکړ:

ـ خو ستا هغه ښه مې اوس هم په یاد دي، ګنې خدای خبر اوس به مې د شهادت څوومه کلېزه وه؟! او له دې سره یې وخندل:

ـ خو ډېر سپین ږیری شوی یې. او زه ښکه یم؟

ـ ته خو ماشا الله اوس هم ایله پنځه ویشت کلن ښکارې. له دې سره نور هم خوشاله شو:

ـ ښه زه اوس څه خدمت وکړم؟ دنده غواړې، که نور څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مننه، زه بس تش یوې پوښتنې ته راغلی یم، نور هېڅ هم نه غـواړم، خو که د دې پوښتنې سهي ځواب دې راکړ، نو داسې بـه خـوښ شـم، لکه خپله نیمايي شتمني چې دې راکړې وي.

رحمتی حیران شو.

ـ ښه بس تش یوه پوښتنه، نه پیسې او نه دنده؟!

ـ هو، بس دا زما لپاره هر څه دي، داسې وګڼه، لکـه د دې پوښـتنې په سهي ځواب چې تا زمـا د هغـو ښـو پـور اداکـړی وي، زه لـه تـا نـور هېڅ هم نه غواړم. رحمت نور هم سنجیده شو:

ـ وعده ده چې سهي ځواب به درکوم، خو که زه پرې پوه شم.

ـ پوښتنه اسانه ده، باور لرم چې پرې پوهېږې. موسکی شو:

ـ بس بسم الله که.

ما ځان لږ راټول کړ:

ـ پوښتنه دا ده، چې ته ځینې وختونه لوی لـوی ګوانښـونه کـوې، ډېـرو خلکو ته د نن وخت زمری ښکارې. په رښتیا هم ته زمری یې؟

ـ عباس خانه له تا نه مې دا تمه نه وه، چې په داسـې خبـرو دې تـه هـم پوه نه شې. خیر ما دې د پوښتنې د سم ځواب وعـده کـړې ده. لـه دې سره سنجیده شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ گوره! له ژونده هغه څوك لاس اخلي، چې د ژوند لپاره څه نه لري او يا تر ببوزلي ژوند مرگ غوره گڼي. يو څوك چې ميلياردونه ډالر ولري، اولادونه يې په لندن او پاريس کې چکرې وهي، دلته په نعمتونو نور تر سپېږمو پورې پړسېدلی وي، د دومره لوی ښار نيمايي برخه يې ملکيت وي، ايا هغه به دومره احمق وي، چې په خپل سر يا ټټر باندې د يوه کارتوس په لگېدو دا هر څه له لاسه ورکړي؟!

ـ ښه نو دا خلك درباندې څنگه باور کوي؟

لږه وږه خندا يې وکړه:

ـ خلك احمقان دي. هغوی لا تر اوسه په دې نه پوهېږي، چې په تاريخ کې تورې او مېړانې ببوزلو کړي دي، شتمنو ته تر هر څه خپله پانگه گرانه وي، زموږ خلك احساساتي او ساده دي او چې داسې ده، نو هغوی ته کله کله يو پلاستيکي زمری هم يو رښتينی زمری ښکاري. څنگه پوښتنه دې ځواب شوه، که نه؟

له دې سره ترې راپاڅېدم:

ـ مننه، ستاسې قيمتي وخت مې ونيو، خو په دې ځواب درنه دومره خوښ يم، چې حد نه لري، ځکه نو نور ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاتې کېدو يې ډېر ټينګار وکړ، خو زه کله پاتې کېدم. لـه دې سره پاڅېد ، د خپل مېز الماری يې پرانيستـه. د ډالرو يـو پنډ بنډل يې راته ونيو.

ـ مننه. تاسې چې ما تـه کـوم ځـواب راکـړ، هغـه تـر دې ډېـر لـوړ او ارزښتمن دی.

ـ ګوره په کار به دې شي، مه شرمېږه. واخله! ډېر ټينګـار يـې وکـړ، خو مجبور شوم، د خدای پامانۍ پر وخت مې ورته په خندا وويل:

ـ اخيستې بـه مـې وې، خـو چـې ربښتيا درتـه ووايـم زه کلـه هـم د پلاستيکي زمريو پيسې نه اخلم!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاکتیکي شا ته تګ

ماما دې خدای وبښي ډېر خوږ خو حاضر جوابه سړی و. کله چې خلقیان واك ته ورسېدل، نو د هغوی تر ټولو ستر شعار دا و، چې د ثور انقلاب په شا نه تلونکی او یا به یې هم په خورا زور، شد او مد ویل، چې ( برگشت ناپذیر است). په هغه وخت کې د هغوی د عقایدو او احساساتو پر وړاندې نظر ورکول، څه اسانه خبره نه وه، خو اخر د ماما زړه یوه ورځ تنګ شو او چې کله یوې ډلې بیا دا شعار ورکړ، نو په مینه یې ورته وویل:

ـ که خپه کېږئ نه، زه درته یوه خبره کوم او هغه دا چې هر شی چې مخکې ځي، ګوره هغه شا ته هم ځي.

خبره مو د شا تګ او مخکې تګ کوله. شا تګ او مخکې تګ هر څوك د ورځني ژوند په مختلفو ځایونو کې کوي، د بېلګې په توګه کله نه کله په دفتر کې به یو څوك په حقه وي، خو د مجبوریت له امله به له خپلې خبرې شا تګ کوي، د مېړمنې د غوسې پر وړاندې شا تګ یو بل کار دی، چې ډېر اتلان هم له دې نادودې سره مخ دي. په سیاسي برخو کې له شا تګ نه خو دا پنځلس کاله کېږي، چې ټول خبر دي او زموږ د هېواد د خلکو پر وړاندې چې کومې پر له پسې نادودې روانې او زموږ حکومتونه له رښتیا ویلو کوم شا تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، نو تر دې به بله روښانه بېلګه نه وي. خو تاکتیکي شا تګ بیا یو داسې شا تګ دی، چې د څو کلونو په اوږدو کې ترې یوه مبتذله اصطلاح جوړه شوې ده. سره له دې چې تاکتیکي شاتګ په پوځي برخه کې کارول کېږي او د دې لپاره چې دښمن ته وروسته درانه زیانونه ورسېږي، تر سره کېږي، خو یاد نوم دومره ډېر شو، چې ښایي د ورځیني ژوند په چارو کې ترې هم کار واخیستل شي. زما په اند په تکتیکي شا تګ کې یو ډول چل، مکر او دوکه پرته ده، چې د خپلو ګټو لپاره ترې کار اخیستل کېږي، نو که داسې وي، لرې نه ده، چې زوی به له پلار، لور به له مور، دوست به له دوست او حکومت به له خپل ولس سره له تکتیکي شا تګ نه کار اخلي.

په دې برخه کې راته د دېرشو کلونو مخکینۍ کیسه رایاده شوه، په ښوونځي کې و، چې د ډزو غږونه پیل شول ساعت وروسته له جلال اباد نه ټانکونه هم راورسېدل، داسې اوازه شوه، چې په کلا کې څلور سوه اشرار ځای پر ځای شوي دي. ډزې نورې هم ډېرې شوې، لنډه دا چې تر مازیګره یې دوام وکړ. په پای کې د ټانکونو درنو ګولیو د کلا دېوال وغورځاوه، خلك ورننوتل، خو ټوله کلا چې یې ویلټله، نو نه د چا مړی پروت و، نه زخمي. په پای کې څوك چې په کلا کې و، هغه په بل کلي کې ونیول شو. دا سړی اکرم معلم نومېده، چې د جهاد لپاره راغلی او یوازې یو سرپوښ ټوپك ورسره و، چې تر مازیګره پرې وجنګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اوسني وخت کې به داسې اونۍ نه وي، چې په خبرونو کې دې څوك وانوري، پلانۍ ولسوالۍ کې تاکتیکي شا تګ وشو، یا د تاکتیکي شا تګ له امله مو ولسوالي پرېښوده. د دې خبرو غوره بېلګه په شمال کې د ځینو ولسوالیو پرېښودل دي. د حیرانۍ خبره دا ده، چې ډز پرې لا شوی نه وي، خو تاکتیکي شا تګ ترې مخکې سر ته رسېدلی وي. د دوی په اند مهمات، وسلې، پوځي موټرې، دولتي اسناد او نور څه دې په توپ والوځي، خو چې تاکتیکي شا تګ خدای بریالی کړي. تر تاکتیکي شاتګ وروسته نو بیا نوې لوبه پیل شي، په لسګونو بې ګناه انسانان او خلك په کې د هغه ځای تر بیا نیولو پورې ووژل شي، په میلیونونو ډالرو زیانونه رامنځ ته شي، خو پوښتنه بیا نشته، چې په یاد تاکتیکي شا تګ کې مسوول کس څومره ګټه او څومره زیان وکړ؟!

اصلي خبره دا ده، چې د تاکتیکي شا تګ په نامه ځینې خلك خپل ټر په پر پټوي، تاکتیکي شا تګ خو دې ته وایي، چې ته لومړی توره وکړه، چې ګټه یې نه کوله، نو بیا دې له شاتګ نه د دې لپاره کار واخله، چې ډېر ژر وروسته ډېر څه لاس ته راوړې. ظالمه بې ډز وډوزه خو دا مه کوه. او که چېرته په شاتګ روږدی یې، نو ښه دا ده چې له دې وروسته په خپل کور کې تاکتیکي شاتګ ته دوام ورکړې. د بهر له بې عزتۍ خو د کور دننه شاتګ درته ډېر غوره دی!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اخرت محاکمه

خدایه ځومره مهربان یې! ستا هرې لورینې ته چې گورم، نو سل شکره کوم. ځومره ښکلی او له سکونه ډك هېواد دې راکړی؟! د نړۍ د خلکو ټول غیرت دې زما په هر هېوادوال کې ننویستی.

رښتیا چې د هېچا خواري په سین نه لاهو کېږي ـ که د روسانو په مقابل کې مو دوه میلیونه شهیدان ورکړل، خو ثمره یې هم موږ ولیده. تر هغې وروسته مو خپل هېواد د داسې عزت او وقار خاوند کړ، چې نه مو چا ته د خیرات لاس ونیو او نه راباندې چا هم برید ته زړه ښه کړ.

وروسته مو د ډېرې پرهېزگارۍ له امله پنځه وخته لمونځ پنځلسو ته ورساوه. داسې اوږدې ږیرې مو پرېښودې، چې ځانونه راته بیا د نړۍ د مسلمانانو سرلارې ښکاره کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نېکه مرغه زموږ د وړتیاو دا لړۍ ټکنۍ نه شوه او تا راکې داسې استعدادونه وزیږول، چې هر یو له خدای ښنلي لقمان حکیم نه کم نه و. داسې چارواکي دې راکې پیدا کړل، چې د نړۍ سیاستوال ورته ګوته په غاښ شول. په نړیواله کچه مسلکي جنرالان، مارشالان او د سیاسي مبصرینو خو مو جوړه نشته. دغې طلایي او له ویاړه ډکې دورې ځوارلس کاله دوام وکړ. د مدنیت او پرمختګ په دې دوره کې د یوه فیلسوف او یوه ماشوم استعداد د انصاف له مخې په یوه تله کې وتلل شو، خو کله کله به متمدن بدماش تر ټولو غوره او د ستاینې وړ و.

په یاده موده کې زموږ د هېواد بهرنۍ پالیسي بهرنیو لویو پالیسي جوړونکو د نړۍ نادره پالیسي وبلله. که زموږ د خاورې کومه برخه به ونیول شوه، نو حکومت به یوازې یوه خوږه موسکا وکړه. هغوی ګرم نه وو، د علامه اقبال په دې شعر به یې استناد کاوه، چې: (هر ملك، ملك ماست).

رښتیا هم د لویو خلکو خویونه لوی وي. دوی د بشري خواخوږۍ له امله لویو غلو ته د شرافت نښانونه او منصبونه ورکړل. د انساني پیرزوینو دا لړۍ اوس هم ښه په درز کې روانه ده، خو تر ټولو ارزښتمنه ګټه چې ولس ته یې ورسوله، هغه دا ده چې له هغوی یې د دنیا لار ورکه او د اخرت پر سرك یې د اخلاص له مخې برابر کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د چارواکو تر ټولو ستره لورینه دا ده که ولس د قیامت تر عذابونو په سختو کړاونو په میاشتو میاشتو ربړېږي، نو حکومت یې پوښتنه کول د بشري حقوقو کلکه خلاف ورزي ګڼي.

ربښتیا هم پر داسې حکومت ویاړ په کار دی، چې د خپل درنښت او سنګینۍ له امله ولس ته یو تش ډاډ ورکول هم د وخت ضیاع ګڼي.

هغوی ګرم نه دي، لویان باید لوی لوی کارونه وکړي، د سل دوه سوه ماشومانو، ښځو د وژلو، سوځولو یا پر بمونو الوځولو پوښتنه او له مخکې نه چاره کول د اوسني سیاست په ډیکشینرۍ کې لوی حماقت دی. ځکه نو افغان ولس باید خپلې د صبر اوسپلې تر سپین غره اوچتې وساتي. د ګیلو ټول فایلونه دې په زړونو کې ثبت کړي، هسې هم د افغانستان قضایي سېستم وړه مسئله په کلونو کې نه شي حل کولای، ښه دا ده، چې د خپلو کوکو او نادودو دوسیه د اخرت محاکمې ته وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پنجاب امام

انسان هم عجیبه وړتیا لري. کله کله یې د کلونو مخکې خبرې یا کارونه داسې سترګو ته ودرېږي، لکه پرون چې تېر شوي وي. همدا لوبه راسره هغه بله ورځ مازیګر وشوه، د شپږویشتو کلونو مخکې خبره!

هغه وختونه رایاد شول، چې په پېښور کې مهاجر وم. د کړاوونو او محرومیتونو داسې وختونه، چې کتابونه پرې لیکل کېدای شي، هغه نادودې، چې د پاکستان حکومت افغانان داسې ساتلي وو، چې د مرګ او ژوند په پوله ناست وو، په میلیاردونو ډالر به یې د همدې مهاجرو پر سرونو راټولول، خو په خروار کې به یې ایله د یوې اوربشې په اندازه موږ ته راکوله. په هغه وخت کې د پاکستان ټول ښارونه د ناولتیا او بېوزلۍ نړیوال سمبولونه وو. تنګ سرکونه، د یوې پیسې پسې لس خېزونه وهل او د فلاکت انتها! خو په لږه موده کې یې د همدې افغانانو د سرونو د سوداګرۍ په پایله کې د هر څه رنګونه بدل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هماغه کلونو کې مې یو ملګری راپسې راغی او پنجاب ته د تللو یې راته وویل. تللو ته مې زړه نه کېده، خو ملګری مې رابانديې ګران و. له ناکامه ورسره روان شوم.

پنجاب ته تر رسېدو پورې مو په اورګاډي کې عجیب او غریب څیزونه ولیدل، دننه په ډبو کې د خلکو او ښځو دومره ګڼه ګوڼه چې ښځې به په کې لویې ګېډې بې خاره پرتې او د نارینو پښې به ورسره لګېدې، خو هغوی پرې ری هم نه واهه. د اورګاډي له کړکیو د پنجابي خلکو سیل بله ننداره وه، دې خلکو هېڅ ډول اخلاقي او انساني اداب نه پېژندل او ښکاره به یې خلکو د سرك پر غاړو خپله اطراحیه اړتیا رفع کوله.

زموږ د رسېدو ځای د ساهیوال ښار و، چې له مخکې مې ملګري د منشیتوب درك په کې کړی و. زما لویه ستونزه دا وه، چې په ټکي اردو او پنجابي نه پوهېدم.

دواړه په یوه شرکت کې منشیان شو، خو زما دنده د شپې له خوا وه. سهار وختي به دشرکت لوی پانګوال څښتن راغی او له هوټله به یې ډېره نرۍ بدرنګه شنه پیتي راغوښته او داسې په مینه به یې خوړه لکه ایمان یې چې پرې راوړی وي.

په څو ورځو کې راته مالومه شوه، چې پنجابیان، د ورځپاڼې د لوستو، شیطانت او نورو حرامیتوبونو سره ځانګړې دلچسپي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اتیا سلنو پورې د نارینو نومونه یې اوس هم د هندوانو دي. هغه خلك یې چې په لمانځه پوهېږي، په نشت حساب دي، روژه خو د هغوی خپله خبره ده چې وایي ( رمضان جانې، پټهان جانې) هوا او اوبه یې له نارینه نه ښځه جوړوي، ځکه خو نو هر پنجابی له واده وروسته بېرته په اسانۍ کور ته نه ځي، خو سره له دې یو نیم لا په کې لوی لوی برېتونه پرېږدي او د بد معاشانو اکټونه کوي.

لږه موده وروسته یې له دې ځایه موږ یوه ساحوي دفتر ته تبدیل کړو. دا ځل نو یو برېتور چاغ پنجابی، چې د هغه ځای د یوه وزیر په څېر ښکاره کېده، هم زموږ ملګری کړ. د شپې به مو د سپیو له وېرې یو کوټك سر ته ایښوده. په دغه ځای کې مو د دویمې شپې یو ماښام و، چې برېتور پنجابي مې له ملګري سره مرکه پیل کړه، هغه هم ورسره په اردو کې خبرې کولې، چې پنجابي د یوه خطرناك غرږ په ملتیا ګازات خوشې کړل. ډېر حیران په دې شوم، چې د برېتونو او باډۍ سره یې راته دا کار ډېر بې مناسبه ښکاره شو. ملګري چې مې زه ښه پېژندلم، نو په داسې حال کې چې پنجابي ته یې شا، ما ته یې مخ او او له پټې خندا یې نور زړه چاوده، ما ته د غلي کېدو اشاره وکړه. ما هم ځان غلی کړ، خو لس دقیقې به لا تېرې نه وې، چې پنجابي له لومړي په پورته اندازه د ګازاتو د ایستلو یو بل خطرناك غرږ وکړ. نور مې نو صبر تمام شو، د بالښت لاندې کوټك ته مې لاس کړ او په غوسه مې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ که ته د نر زوی یې بل واچوه، چې زه درسره څه کوم؟!.

پنجابي په وېره زما ملگري ته وویل:

ـ دا خان راته خطرناك ښکاري، ما ته ولې په قهر دی؟!

ملگري مې په داسې حال کې چې له خندا یې نورې له سترگو اوښکې رواني وې، جواب ورنه کړ، خو ما بیا ورته وویل:

ـ زما خبره ورته ترجمه کړه او ورته ووایه، چې که بل ځل دې دا کار وکړ، نو خوښ به دې شم.

لنډه دا پنجابی پوه شو، د سهار چای مې لا نه وڅښلی، چې مرکزي دفتر ته وغوښتل شوم او هورې یې راته وویل:

ـ تاسې نور دلته کار نه شئ، کولای، ستا د لاسه شکایت شوی، شېخ یاسین ویل، چې خدای وساتلم، گنې بېگاه یې وژلم.

په داسې حال کې چې میاشت مې لا پوره شوې نه وه، د شېخ یاسین د گازاتو د اخراج له امله یې د انفکاك خبر راکړ. ورته ومې ویل:

ـ زه به هم ډېر خوشاله شم، چې د دې گازي وطن نه مې خدای پښې سپکې کړي. نه پوهېږم، چې څو روپۍ یې راکړې، خو تېر ماسپښین و، چې یوه جومات ته ننوتم. د اوداسه ځای ته چې لاړم، نو نږدې مې کانگې کړې وې، هر یوه گل مو په مخ خپلې د گېډې تولې اړتیاوې همدلته رفع کولې. په ډېره خوارۍ مې اودس وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات ته چې ننوتم، نو امام د جومات انګړ جارو کاوه، یوې غاړې ته ودرېدم، خو لا مې سبحانه پوره نه وه ویلې، چې امام صیب یو خطرناك اواز وکړ، داسې چې په لړ وخت کې یې بوی ما ته راورسېد ، سلام مې وګرځاوه، له ځانه سره مې کنځلې وکړې او بیا مې وویل:

ـ خدایه دا څه حال دی؟! له دغو اوازونو خو یو ځای هم په امن کې پاتې نه دی، آن د خدای پر کور هم دوی دا ګازي مېزایل را اوروي.

د دې خطرناکو واقعاتو نه کلونه کلونه تېر شول، خو اوس مې هم هغه امام په یاد دی، حیران دې ته یم، چې اوس لا هم د جهاد فتواوې د داسې امامانو له لوري، زموږ هېواد ته راځي ، چې خپل ګازونه د خدای په کور کې هم نه شي کنټرولولی ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جونګړې بیرغ

زموږ د کوڅې د دنګو ماڼیو په منځ کې یوازې د هغې کور خام و. کله چې به مې په ناپامۍ کې د خپلې پاس کوټې نه د هغې پر کور سترګې ولګېدې، نو پر زړه به مې نامالومې سپېڅلتیا اغېز وکړ، او داسې به مې ګڼله چې د کوڅې شانداري ودانۍ د یتیمانو په وینو جوړې شوې او ټوله ښکلا او پاکي یوازې په همدې خام کور کې ده .

د کوڅې نابېره پانګوال ګاونډي چې به یې له کوره تېرېدل، نو هغوی به ورته په ترخو سترګو کتل او ښایي دا ډول کور یې په کوڅه کې د ځانونو لپاره سپکاوی ګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې یوه بوډۍ ښځه د دوو بوتکیو هلکانو سره اوسېده، هغې به په خپلو زهیرو لاسونو سهار وختي د کور جارو او نور کارونه پیل کړل او چې غرمه به شوه، نو دغو زلموټو ته به یې د هغوی له راتګه مخکې دسترخوان غوړولی و. هلکانو به په مینه ډوډۍ وخوړه او لږ وروسته به یې د آیسکریم ګاډۍ روانې کړې.

داسې ښکاره کېده، چې هلکان تر غرمې پورې ښوونځي ته او نوره ورځ د ژوندانه د تېرولو لپاره مزدوري کوي. په دغه کوڅه کې چې مو لږ وخت تېر شو، نو پوی شو، چې ځوان زوی او انږور یې د کابل په جنګونو کې وژل شوي او بوډۍ ترور ته یې اوس لمسیان پاتې دي.

زما خونه په داسې ځای کې وه، چې که به مې ورکتل هم نه، خو په ورځ نیمه کې به مې سترګې خامخا د هغې پر کور لګېدې او لیدلو به یې د انسانانو د ژوندانه ټېټو او لوړو ته یوړم او د هغې بې عدالتۍ ژورو ته به یې ننویستم، چې په دا څو کلونو کې یې زموږ د هېواد ارزښتونه په سین لاهو کړل.

خو نن راته د بوډۍ کور نور هم ډېر په زړه پورې او حیرانوونکی شو، د هېواد د خپلواکۍ ورځې ته یوه ورځ پاتې وه، په پخه کوڅه کې راروان وم، ښي او کیڼ لوري ته مې قیمتي ودانۍ ولاړې وې، خو ټولې داسې وې، لکه روح چې په کې نه وي، د استقلال د ورځې د نمانځلو لپاره په کې یوه نښه نه وه. داسې ښکاره کېدل، لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان يې د نورو هېوادونو اوسېدونکي او پرته له ځان مړونې بل احساس نه لري او يا هم د خپلواکۍ د جشن د ورځې په رارسېدو خپه وي.

په همدې سوچ کې وم چې کور ته نږدې شوم، خو همدلته مې پر جونګړې پر دروازې داسې څه وليدل، چې هک پک يې کړم.

د کور مخې ته ترور په داسې حال کې چې د بدن د کمزوريو نښې يې هر چا ته ښکاره کېدای شوې ولاړه وه. د هېواد ملي بيرغ يې پر خپل کور درولی و او داسې يې ور کتل، لکه په دې فکر کې وي، چې له ودرېدو نه يې ډاډمنه ده. څه شېبه يې تر شا غلی ودرېدم او بيا مې ورته وويل:

- تروري سلام.

مخ يې راواړاوه:

- وعليکم. لاندې باندې يې راته وکتل.

لکه چې څوک د ډېرو احساساتو لاندې راغلی وي:

- تروري! دا څومره له وياړه ډک کار دې کړی؟! په يوه محل او ماڼۍ دا وياړ نښته او تا دومره لوی بيرغ درولی؟!

سر يې ټيټ او بيا يې سترګې پورته کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زویه د ډاډ او خوشالۍ لپاره خو بله ورځ نه لرو او بیا خو شاه امان الله او د ازادۍ د لارې شهیدان په موږ دومره حق لري، چې یاد یې کړو.

سترګې مې راډکې شوې:

ـ ترورې! ستا جونګړه په نن ورځ د لویو چارواکو او پانګوالو له ماڼیو ډېره شانداره ښکاري. دا دنګ محلونه ستا تر جونګړې ډېر ټیټ او خاوندانو یې تش په نامه د افغانانو جامې اغوستې دي. ستا دا کار د هېواد د د حق د ادا ینې لوی ثبوت او هغوی چې دا احساس نه لري، ورته لوی شرم دی. له دې سره یې لاسونو ته د ښکلولو لپاره ټیټ شوم او بیا مې د جونګړې پر دېوال د هېواد ملي رپانده بیرغ ته یوه شېبه په حسرت وکتل!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جشن درواغ

نن مابښام چې کور ته رااغلم، نو ماشومان مې راته حیران شول. وړې لور مې په تروړتیا وویل:

- پلاره! په دې بیرغ څه کوې؟

- لورې سبا ته جشن دی، دا مې د دې دپاره راوړی، چې د خپل کور په دېوال یې وځړو. بلال په سپېڅلتیا پوښتنه وکړه:

- پلاره! مېلې په کې شته؟

کیناستم:

- زویه سږکال حکومت ویلي، چې سږنی جشن به په شاندارو مراسمو نمانځو. خدای دې وکړي، چې رښتیا هم د ازادۍ د ګټلو دا ورځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا غونډې ښکلې او له عظمت او مېلو ډکه وي. دې کې يې مور له چايو سره راننوته:

ـ سرېيه! خبرې مې دې واورېدې، ما د افغانستان د جشن ډېر صفتونه اورېدلي، خو ورېسې ړنده دې کړم، اخر موږ هم انسانان يو، سبا به مو خامخا وړې !

ـ ښه ته دا چاي واچوه، سمه ده! بلال موسکی شو:

ـ پلاره دا جشن څه ته وايي، تا پخپله ليدلی؟

ـ زويه! سږکال زموږ د هېواد د خپلواکۍ شپږ نوييمه کليزه ده. په دې ورځ غازي امان الله خان او د دې هېواد نورو باتورانو، انګرېزانو ته ماتې ورکړه، افغانستان يو خپلواك هېواد شو او بيا به هر کال په همدغه ورځ زموږ حکومتونو او خلکو دا ورځ لس ورځې نمانځله. د هېواد ملي پوځ به رسم ګذشت کاوه، په لسګونو جېټ الوتکې، ټانکونه او زغره وال موټر به د هېوادوالو له مخې داسې منظم تېرېدل، لکه په کمپيوټر چې جوړ شوي وي. له دې سره به د ټولو خلکو سترګې له اوښکو ډکې شوې، ټول ښار به له رڼاګانو ډك و. د کابل لوی چمن کې به کرۍ شپه اتڼونه، لوبې او سندرې وې، دا داسې جشن و، چې د نړۍ له ډېرو هېوادونو نه به يې په سلګونو بهرنيان ننداري ته راتلل.

سپوږمۍ راته په ماشومانه انداز رانږدې شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ پلارجانه اوس خو به مو ړ خامخا وړې. زه به مې خپلې نوې جامې واغوندم.

بلال:

ـ پلاره موږ هم خپل پوځ لیدلی شو؟! زما د هغوی ټوپکونه ډېر خوښېږي.

ـ ولې نه، هر څوک یې لیدلی شي، دا خو همدا زموږ د خاطره تېرېږي.

د شپې څو ځله راپسې اولادونه راغلل او بیا بیا یې رانه جشن ته د تللو اقرار واخیست. د شپې د تېرو وختونو د جشنونو په خیالونو کې ویده شوم او سهار به مو لاچای نه وڅښلی، چې بلال او سپوږمۍ راته د کوچنیو کوماندویانو په څېر سر ته ولاړ وو. د ژمنې سره سم مې درې واړه په یوه ټېکسي کې روان کړل. زه په دې سوچ کې وم، چې د ښځو د ناستې لپاره به ځای وي، که نه، چې دې کې یې رانه وپوښتل:

ـ د بلال پلاره! په پېښور کې کې خو به چې جشن و، نو په هر کور به ډېر بیرغونه راځوړند وو، خو دلته نه په کورونو او نه په بازار کې کوم بیرغ ښکاري؟! پوښتنې ته یې بې ځوابه شوم، په زړه کې مې تېر شول، چې رښتیا هم په داسې یوه هېواد کې چې نه تاریخ لري او نه کوم اتل، خو بیا هم خپله ورځ په ډېره مینه نمانځي، خو دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لویه ورځ داسې ده، لکه په ټول ښار کې چې عمومي ماتم وي. همدې کې د محمود خان پله ته نږدې شوم. سپوږمۍ رانه پوښتنه وکړه:

ـ پلاره د جشن ځای کله رارسېږي ؟

ـ لوري همدا دی، ورته راورسېدو. بلال:

ـ زموږ پوځ به همدلته راځي؟

ـ هو همدا یې د تېرېدو ځای دی.

د ټیکسي ډرېور مې ودراوه، پیسې مې ورکړې.

حیران شوم، لکه چې تېروتی یم. یو نیم موټر پر سرك روان و. ځای ځای به پولیسو  موټرې ودرولې، خو د ناستو خلکو درك نه و. زړه کې مې تېر شول، چې ښایي د جشن نېټه مې هېره کړې، بلـه ورځ بـه وي. له یوه سړي مې پوښتنه وکړه:

ـ وروره نن ګنې د زمري اته ویشتمه نه ده؟

ـ هو، نن د جشن ورځ ده.

ـ دلته خو د جشن هېڅ نښه نه ښکاري.

په خندا شو:

ـ وروره بېګاه یې یو څو پټاقۍ والوځولې، خو بس همدا جشن و او تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ولې هغوی خو اعلانونه کړي و، چې په شانداره توګه به یې نمانځو.

ـ زه هم د همدې دپاره راغلی وم، بس څه ووایم؟! له دې سره سړی روان او په داسې حال کې چې اولادونو ته مې بې ځوابه او ملامته وم، په موټر کې کېناستو. مېرویس رانه ورو وپوښتل:

پلاره:

ـ ما خو خپل پوځیان ونه لیدل؟! هغې ته مې څه ونه ویل، خو زړه کې مې ګرځېدل، چې کاشکې یې سږنی جشن ښه نمانځلی وای، که په دې لاره کې مونږ یو څو کسه مړه هم وای، باك یې نه و خو چې د دې هېواد اولادونو او د هېواد دښمنانو ته مو خپله خپلواکي ښودلې وای. په همدې کې کورته ورسېدو، لامو د کور دروازه نه وه خلاصه کړې، چې سپوږمۍ راته په ماشومه ژبه وویل:

ـ پلاره! تا خویل چې زه درواغ نه وایم. خو تا په جشن کې ولې مونږ ته دروا غ وویل ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خرو راتلونکې

د خره یا د هغه د زوی ( کوتي) په برخه کې لس دولس کاله مخکې ما لیکنه کړې او د حقوقو په هکله یې چې څه لاژم وو، هغه مې د ډېرو تر غوږونو رسولی وو. دا چې تر اوسه د دې ځای د انسانانو هر څه هره ورځ تر پښو لاندې کېږي، نو خره خوارکي به د چا په یاد وي؟! خو بې له ویلو زموږ هم بله لار نشته.

په هر ترتیب، دا چې پرته له خرو زموږ د هېواد خلك بله چاره نه لري، نو په اوس وخت کې هغه ګوابښ چې دغو شریفو څارویو ته متوجه دی، زه مجبور کړم، چې یو ځل بیا د دوی پر وړاندې د روان ظلم نه هېوادوال خبر او په دغه لار کې چې کوم تاریخي مسوولیت دوی لري، هغه ور په یاد کړم.

موږ افغانان رښتیا کبرجن او بې فکره خلك یو. موږ ته هر هغه شی، چې کمزوری وي، نو نه یې په قدر پوهېږو او نه هم ورته د سرېتوب په سترګه ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره مو د خره کوله، که د خرو کارونو ته په سرسري نظر وکتل شي، نو دا ترې جوتېدای شي، چې هغوی خپل مسوولیت په ټولنه کې په احسنه توګه ادا کړی او لا تر اوسه خپله روزي حلالوي. د جهاد له پیله تر پایه همدا خره وو، چې په سختو لارو به د درنو پېټو سره روان وو. په کوم غره کې چې به د چا نیکه یا نیا ناروغه شوه، نو په خره به یې تر ډاکتره رارسوله. د غرونو نه پرې لرګي راوړل، پټیو ته پرې سرې چلول، ژرندو ته پرې غنم وړل،لنډه دا چې څه وو، چې خرو به په پټه خوله نه کول؟!

په خواشینۍ سره د وخت په تېرېدو او د دېموکراسۍ په راتګ سره د خرو ارزښت ورځ تر بلې په کمېدو شو. هغو خلکو چې پخوا به یې څه نا څه خره په ګېډه ماړه او په تن ډولي ساتل او بیا به پرې نشه مېلو ته روان وو، هغوی د موټرو خاوندان او د خرو سره یې مینه کمه شوه، خو سره له دې ټولو، خره اوس هم زموږ په ټولنه کې ځانګړی مقام لري او د ډېرو کلیوالي خلکو لاس اوس هم پرې سپک دی.

خر د درناوي وړ حیوان ځکه دی، چې په پټه خوله ډېر کار کوي، د کرهڼې او با وړلو خدمتونه یې له هېچا پټ نه دي، پرته له شکه د سترو موجوداتو همدا خاصیت وي، چې د ښو په بدل کې له چا تمه نه کوي، د وړتیا یوه بېلګه یې دا ده چې په هغه ځایونو کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشین کار نه شي کولای، خر یې بې تکلیفه کوي، لنډه دا چې د دې هېواد د ابادۍ ډېره برخه په خرو پورې تړلې ده.

له بده مرغه د هېواد د دښمنانو پر موږ دا هم نه لورېږي، چې موږ دې په کافي اندازه خره ولرو. دغو د ظالم اولادې خو له موږ هر څه وترورل او اوس یې رابانـدې دا نـه لورېږي، چې موږ دې هم د دې خاورې په ابادولو کې لـه خپلو افغـاني خرو نـه ګټه واخلو. ځکه نو هغوی اوس یوه خطرناکه لوبه پیل کړې ده. هغوی زموږ ځینې خلك هڅولي تر څو خره ترې په ګرانه بیه رانیسي. که دلته یو ښه ځوان او صحتمند خر په څلور زره افغانۍ وي، نو هغوی یې ترې په اوه زره افغانۍ په خوشالۍ اخلي. په پاکستان کې نو بیا د خرو سوداګر په همدې خره درې چنده پیسې ګټي. غوښه یې د لاهور او پنجاب په نورو بازارونو کې د خوسکي د غوښې په بیه پلورې او څرمن یې په ډېرش زره کلدارې په چینایانو پلوري. وایي چې د خره له څرمنې نه د نجونو او ښځو لپاره ډېر ګرانبیه بالاپوشونه او دستکولونه جوړېږي. ځکه نو

که د افغانستان حکومت د خپلو افغاني خرو د کنټرول غم ونه خوري، نو لرې نه ده، چې د هېواد دا صادق خادمان په لنډه موده کې ورك شي. بیا به نو زموږ ډېر هېوادوال د غرونو له تړو خپل ناروغان تر سرکونو په شا راوړي او له بې شمېره نورو ننګونو سره به لاس و ګرېوان وي. تر ټولو د شرم خبره به دا وي، چې بیا موږ خرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پروپوزلونه ليکو او د افريقې نه يې په سوال راغواړو او د کراچۍ
په بندر کې ورته په مياشتو مياشتو زموږ سوداگر مرگونی انتظار
کوي. د دې تر څنگ د مدني ټولنو فعالو غړو ته په کار ده، چې د
افغانستان خره نور له حلالو او ورکېدلو وژغوري، په دې برخه کې
بايد لاريونونه او غونډې وکړي. که داسې ونه کړي، نو گوره زموږ د
هېواد د خرو راتلونکې  له همدا اوسه له جدي خطر سره مخ ده!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعرۍ تباهي

د ښار د ګڼې ګوڼې په برخه کې روان وم، چې پر یو سړي مې سترګې ولګېدې. مخې ته یې د اوږدو تسپو لړونه اچولي وو او داسې ښکاره کېده، چې ډېرې تسپې یې له لرګي جوړې وې. سړي ته چې پر پیاده رو ناست او څادر یې تسپو او مسواکونو ته غوړولی و، نور هم ځیرشوم. زما ګومان سهي وخوت، په ځاني صاحبزاده صیب و. د دې لپاره چې رانه ونه شرمېږي، مخ مې بل لوري ته واړاوه او له افسوسه مې ځانه سره داسې څه وویل، چې په مانا یې زه هم پوه نه شوم. لا پوره روان شوی نه وم، چې راسره ملګري مې راته وویل:

ـ پوه مې کړه، څه خبره ده؟ دومره دردمن اه دې وکړ؟!

ملګري ته مې انکار نه شو کولی او نه مې هم باید کړی وای، ورته ومې ویل:

ـ دا زموږ پخوانی ملګری و، خو شاعرۍ تباه او برباد کړ. په حیرانووکو سترګو یې راته وکتل:

ـ شاعرۍ څنګه تباه او برباد کړ؟! دچایو سماوار کې کېناستو. ښه شاعرۍ نو څنګه تباه او برباد کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په پېښور کې یو وخت د مهاجرو شاعرانو بازار ډېر ګرم و. داسې اونۍ به نه وه، چې د شاعرۍ کومه ټولګه به نه چاپېده. په کوم دوکان کې به چې موږ کېناستو، نو د فرهنګیانو به پرې د مچانو په شېر ګڼه ګوڼه وه. یوه نیمه ورځ به صاحبزاده صیب هم دوکان ته راته. د شاعرانو او لیکوالو خبرې به پرې ډېرې ښې لګېدې. څه خو یې ښایي خپله ورتیا او څه هم د چاپېریال اغېز و، چې بله ورځ صاحبزاده صیب هم خپل یو نوی لیکلی شعر راوړ. زړه نه زړه یې ملګرو ته ارشاد کړ. که څه هم د مانا او ښکلا له پلوه په کې هېڅ هم نه و، خو له نېکه مرغه قافیه کې یې دومره جمپونه نه وو. ملګرو وهڅاوه، تر څوشاعرۍ ته دوام ورکړي. هڅونه نه وه، سم په اور باندې د عراق پټرول و. په موږ ټولو کې د صاحبزاده صیب ژوند له اقتصادي پلوه ښه و. په پېښور کې دوه سوزوکي او درې ریکشا ګانې لرل، په هغه وخت کې ډېره لویه خبره وه. خو د ملګرو هڅونې ترې د دنیاوي ګټې سره مینه په لږ وخت کې واخیسته او هغه یې په خپلې شاعرۍ مین کړ.

له دې وروسته به صاحبزاده صیب په اونۍ کې یو ځل راته، خو لږ تر لږه به شل دوه ویشت شعرونه ورسره وو. نور یې نو خپل ځان ته هم د پخوا په شېر پام نه و، د جامو پخوانۍ ښکلا یې د خپلو غزلو رنګینیو په مخه کړې وه. یو څو میاشتې لا تېرې شوې نه وې، چې د دوکان پر ملګري یې د خپلې مجموعې د چاپېدو زیری وکړ. موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو له مخکې مبارکي ورکړه او صاحبزاده صیب په برېتونو کې یوه خوندوره موسکا وکړه. په خبروخبرو کې مالومه شوه، چې هغه د شلو کلونو شاعري په څلورو میاشتو کې پوره کړې او د مجموعې د پاڼو شمېر یې اته سوه نولسو مخو ته رسېده. موږ ټول یې هك پك کړو.

د دوکان ملګري چې ورته حساب وکړ، نو په ښه کاغذ د زرو ټوکو د چاپ ۴لکه او دېرش زره کداري کېدې. ناست خلك نور هم حیران شول، ځکه د هجرت په هغو شپو کې به د اوسنیو وزیرانو په جېبونو کې ایله اتیا کلدارې په تکلیف پیدا کېدې. صاحبزاده صیب هم لومړی لږ فکرمن شو، خو وروسته یې وویل:

ـ سهي ده بس چاپ یې کړه، خو بیه ورته څو وټاکو او له دې سره یې د حساب وړوکی ماشین له جېبه راوویست. ۴ لکه او دېرش زره یې چې پر زرو تقسیم کړې، نو د هر ټوك بیه ۴۳۰ کلدارې شوه، خو صاحبزاده صیب ورته وویل:

ـ د یوه ټوك بیه پنځه سوه ولیکه! دوکاندارملګري ورته وویل:

ـ سمه ده وبه شي.

موږ حیران وو، چې صاحبزاده صیب به دومره روپۍ له کومه کوي؟! خو په کومه ورځ چې یې د شعرونو ټولګه چاپ شوه، نو د واسکټ له دننه جېبونو یې بنډلونه راوکښل، هغه د دې فرهنګي قربانۍ لپاره په لږو ورځو کې خپلې موټرې او ریکشې پلورلې وې. د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چاپ سره ټولو د زړه له تله مبارکي ورکړه. هغه ډېر خوشاله شو، ټکنده غرمه وه، صاحبزاده صيب د کتاب په شيرينۍ کې له هوټله يو مست کړايي راوغوښت.

د شعرونو د ټولګې څو ټوکه دوکان ته رارسېدلي وو، په کار وه، چې ټولګه نه، د شعرونو پنډ ورته ويل شوی وای، ځکه شپږ کلن ماشوم او اويا کلن بوډا خو نه شو پورته کولی.

له چاپ وروسته، صاحبزاده صيب د خرڅلاو لپاره په دوکان کې د کتابونو د ايښودو غوښتنه وکړه. د ملګري دوکان مو تنګ او کتابونه ډېر درانه وو، خو مجبور و، ښه يې ورته وکړه، سل ټوکه يې دوکان کې په ډېره خوارۍ کېښودل او د نورو يې کور ته د وړلو تابيا وکړه . د صاحبزاده صيب په اند که ټوك په پنځه سوه پلورل شوی وای،نو هغه ته يې اويا زره کلدارې ګټلې.

له دې وروسته به د هرې مياشتې په پای کې هغه يو ځل دوکان ته سر راښکاره کاوه، خو په درېو مياشتو کې د ثواب لپاره يو هم خرڅ نه شو. د ملګري په غوښتنه يې بيه راټيټه کړه، خو په کال کې يې بيا هم چا پاڼه وانړوله. دواړو ته بله لار پاتې نه وه، بيه وار په وار راټيټېده. پنځه کاله وروسته خبره اخر دې ته راغله چې د يوه ټوك بيه شل کلدارې وټاکل شوه، دې کې هم شپږ مياشتې تېرې شوې، چې د پښتو د شاعرۍ دښمنانو د صاحبزاده صيب يو کتاب هم وانخيست. نور نو د صاحبزاد صيب ژوند له اقتصادي پلوه په ټپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېد. دګتې وتې وسیلې یې لاړې او د کرایي کوره یې نوره کډه هم په تلو وه. خوارکي له دوکاندار سره په تول خبره وکړه. په پای کې په دې سره سلا شول، چې زموږ دوکاندار ملګری ترې یو افغاني من کتابونه په شل کلدارې واخلي.

په بله ورځ په داسې حال کې چې صاحبزاده صیب د خپلو خیالونو او ارمانونو نه ډك نهه سوه ټوکه کتابونه په اوږده کراچۍ کې پخپله راکشول، د دوکان له څنډې موږ ته ښکاره شو. پر مخ یې خولې راروانې او سکمونه یې کول، چې له بده بخته د ښار یوې ژورې ویالۍ کې پرې کراچۍ چپه او کتابونه پرې د پاسه راپرېوتل. په یوه منډه ورغلو، صاحبزاده صیب مو له ناولو اوبو راوویست. تر پنځو لوټو اوبو تر کاروني وروسته مو ایله د هغه مخ ولید. یو نیم، نیم ککړ کتاب مو هم ورته له لښتي راوویست، خو د ځینو د پاکولو هېڅ چاره نه وه. صاحبزاده صیب مو له لاسه ونیو، هغه داسې روان و، لکه زنګون چې یې ډېر خوږ شوی وي. لږ وروسته ودرېد او بیا یې د تګ پر وخت پاتې کتابونو ته په داسې دردمن نظر وکتل، لکه شاعرۍ چې ترې تول ژوند اخیستې او هغه یې د تلپاتې تباهۍ پرلاره روان کړی وي!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شرافت حرامیتوب

له هغې ورځې نه چې دې خاوره کې ګډوډي جوړه شوه، نو له هماغه وخت مې د ورځې په تېرېدا سره د ذهن بېړۍ د ژوندانه ناخوالو دومره ښورنده کړه، چې د ژوندیو په کتار کې په ډېره خوارۍ حسابېدم، خو په حقیقت کې مې د بدن هر رګ د سیتار د تار په څېر اهتزاز کاوه.

د وژنو، ظلمونو او نورو نادودو سره خو معتاد شوم، خو ځینې ناروا وې مې بالکل نه شوې زغملی. ما ډېر ژرنده ګړي، نالوستي او د خدای په قهر ککړ خلك ولیدل، چې له ډېرو خواو نه ستر خلك شول، هغه خلك چې د ولږې له امله به ورکره موږکان په دايمي زکام اخته وو، د وخت په تېرېدو سره یې اولادونه د نړۍ د نازولو په کتار کې ودرېدل. د دوی دغه سترتوب یوازې له مادي پلوه نه وو، دې ډول خلکو دا چانس هم درلود، چې پر سترو سترو چوکیو کېني او د ډېر وخت لپاره پر خلکو باداري وکړي.

په کور کې به یې په همدې پېغور راکاوه، چې د دومره زده کړې، خدمت او هلو ځلو سره زموږ ژوند د زیږي بابا له ملنګانو نه ښه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. داسې پوهه دې په توپ والوځي، چې په درد نه خوري، له یوې نه دې دوه نه کړه او ....

د کور خبرې چې به مې واورېدې، نو د افغانستان د سیاسي وضعې په څېر به ورته ناځوابه شوم. زه هم حیران وم، چې څه ووایم، څو ځله مې په وسو وسو وویل:

ـ نور څه وکړم، خپلې هلې ځلې کوم، کار کوم او په حلالو پیسو ایله همدومره کېږي چې ژوندي پاتې شو. نور حرامیتوب مې زده نه دی او د شرافت په ژوند کې دلته انسان ته ایله کچالو او ډوډۍ ورورسېږي.

راته وویل شول، چې په اوس وخت کې حرامیتوب یو عام رواج دی، د دومره پوهې او زده کړې نه خو لږ حرامیتوب او چالاکي ښه ده!

خبره یې بده نه وه، خو د دې کار لپاره هم فطري ورتیا اړینه ده. که څه هم دوه ځله راته د غلا طلایي فرصتونه پیدا شوي وو، خو چې رښتیا درته ووایم، په خپل ضمیر بریالی نه شوم.

کله کله چې به مې خپل پخواني سپېره، مګر اوسني شتمن ملګري ولیدل، نو په خندا کې به مې ورته وویل:

ـ یاره! لږ د غلا او حرامیتوب چل خو ما ته هم وښایاست. هغوی به د ځواب پر ځای په خندا او بیا غلي شول. زړه کې به مې ویل، چې زموږ به هېواد کې خو د هر ډول ظرفیتونو د لوړولو ورکشاپونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورسونه جوړ او لاجوړېږي، کاشکې داسې یوه اداره پیدا شي، چې ما کې د دروغو، چاپلوسۍ او غلا وړتیا پیدا او په دې برخه کې مې داسې وروزي، چې د نورو په څېر زه هم د احساس او وجدان سره د تل لپاره د نن وخت د عاطفې په څېر خدای پاماني وکړم.

په همدې فکر کې وم، چې نابېر مې پر داسې یوې لوحې سترګې ولګېدې، چې نوم یې حیران او بیا خوښ کړم.

( په شرافت کې د حرامیتوب د زده کړو مرکز)

په خوشالۍ مې د مرکز کوایف له چوکیدار نه وپوښتل:

- وروره په دې مرکز کې هغو خلکو ته زده کړې ورکول کېږي، چې تر اوسه یې غلا، تالان، بې وجداني، غوړه مالي یا بل کوم ټیټ کار نه وي کړی او د اقتصادي پلوه لا د خدای په قهر اخته وي.

سړی راته ډېر مخلص ښکاره شو، ورته ومې ویل:

- خو د دې ټولو سره سره یو ژوندی وجدان په کې څنګه وژل کېدای شي، زه خو دا ستونزه لرم؟.

په حکیمانه انداز یې وویل:

- په لومړي سر کې هر انسان همداسې وي، د دې کورس استاذان له مختلفو تاکتیکونو نه کار اخلي، هر څه په تدریج سره پر مخ ځي او پخپله به که خدای کول درنه په لږ وخت کې لوی انسان جوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې وپوښت:

ـ د چاپلوسۍ تدریس په کې هم کېږي؟ خو ما ته د غلا نه هم دا ډېر سخت کار ښکاري.

ویې خندل:

ـ وروره! دلته چاپلوسي په ډېر هنري انداز او د یویشتمې پېړۍ سره سمه د دېموکراسۍ په رڼا کې ښودل کېږي. دې مرکز کې هغه استاذان چې په چاپلوسۍ کې ډاکتري لري او د دې هېواد ستنې دي، ښودل کېږي.

له خوشالۍ نه موسکی شوم.

ـ ښه یانې ما نه هم چاپلوس او غل جوړولی شي؟

ویې ویل:

ـ ډېر په اسانه، بس لږ همت په کار دی، خدای پاك وایي ته حرکت کوه، زه په کې برکت اچوم.

ـ ښه نو وروره میاشتنی فیس یې څومره دی؟ دا ستاسې ځای خو مې ډېر خوښ شو، زه خو خپل وجدان د پلې پړك ته کېنولم.

ـ د میاشتې درې سوه ډالر.

په حیرانۍ:

ـ درې سوه ډالر؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې يې برګې کړې:

- ولې دا تا ته وړه خبره ښکاري، چې غلا او چاپلوسي هم وکړې، خو دا هر څه په شرافت کې وي، څوك درته غل او چاپلوس ونه وايي؟!.

له دې سره د فيس له وېرې يو لوی ګام شا ته شوم، خو ورسره د ښار په يوه ژور ناولي لښتي کې رواليدم. او بيا داسې ښکاره کېدم لکه په حراميتوب کې د شرافت احساس مې چې په هماغه ککړو اوبو کې چوکيدار ته پرېښی وي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غم خوشالي

په دې راته ځان ناځوانه ښکارېده، چې د دوست د پلار مړينې ته مې په خپل وخت ونه رسېدم؟! که رښتيا خبره شي، نو دومره ګرم هم نه وم، په سوونو کيلو متره لرې او خبرېدا مې دوه ورځې وروسته. څو ورځې وروسته يې د کور کوڅې ته ورسېدم. له مخکې مې له ځانه سره د همدردۍ او خواخوږۍ خبرې جوړې کړې او چې کله يې هوجره کې غلی کېناستم، سره له دې چې بايد يو اوږد سورت مې قرائت کړی وای، خو پرته له انا اعطينا نه مې بله چاره نه وه، ځکه مې نو له ناچارۍ د هماغه په قرائت په اوږده انداز پيل وکړ. وروسته مې د دعا لاسونه پورته او په ژړغوني ښه مې وويل:

ـ کاکا دې خدای وبښي، هغه ته دې خدای جنتونه ورکړي او تاسې ټولو ته د زړه صبر. حقه لار ده،ټول پرې درروان يو. زما زړه لا نوره همدردي هم غوښته، چې ملګري مې په خندا وويل:

ـ دا خبرې پرېږده، چای زر وڅښه چې بهر وځو.

د ملګري په خندا مې شك پيدا شو، په خپل خپګان حيران غوندې شوم، ورته ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کاکا خو په رښتیا وفات شوی؟ هغه بیا موسکی شو:

ـ کاکا به خپل کار کئ، پاڅېږه چې وځو. له دې سره نېغ پاڅېدم، دواړه پټو ته لاړو. شك مې نور هم ډېر شو:

ـ هلکه ما خو به څه تېروتنه نه وي کړې، چې خاندې؟. زه خو خبر شوم، چې درې ورځې مخکې کاکا په حق رسېدلی او تا ته چې ګورم؟!

هغه بیا په خندا شو:

ـ خبره دې سمه ده، په رښتیا مړ شوی.

ـ نو ته خو هېڅ خپه نه یې؟! دې نه مالومېږي، چې زه تېروتی یم. ته ټوکه کوې، ځکه د سورت د ویلو پر وخت هم ته خوشاله ښکاره کېدې.

ـ وروره خوشالي څه چې زموږ په ټول کور اختر دی. ملګري ته مې په حیرانۍ وویل:

ـ د پلار مرګ او خوشالي؟! په شونډو کې موسکی شو، دواړه په پوله کېناستو:

ـ هغه پلار نه و، د غم ګوډي و، ګوډي.

ـ یاره دا څه لوبه دې راخیستې؟! هغه خو به د خلکو مسئلې حل کولې، هغه څنګه د غم ګوډی و؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا خو ښېله خبره وه، چې بهر به د يوه پرښتې غونډې و، خو که د کور کیسې یې درته وکړم، نو بیا به وایې، چې افرین دې پر تاسې وي، چې د پلار په نامه د بلا سره مو دا بلا کلونه څنګه تېر کړل؟!

په خبره کې یې راته وزن ښکاره شو. هغه وویل:

ـ له شرمه مو کلونه کلونه چا ته حال نه شو ویلی، داسې ورځ به نه وه، چې د هغه د لاسه به ټول کور په اور کې نه و، ولاړ. مسلمانه پلار نه یو اسماني عذاب و، چې پر ټول کور نازل و، ایله مو هډوکي سپك شول.

ـ یاره زه خو دې حیران کړم، ما سره خو به یې ډېره ښه ستړي مه شي کوله.

ـ چې نه یې منې، نو یو څو نادودې یې واوره! داسې ورځ به نه وه، چې زما ناروغه مور به یې بې ګناه او بې خطا نه وهله. داسې وهل، چې د هغې خوارکۍ له غوښو خلاص وجود به یې په هوا کې پورته او بیا به یې پر ځمکه راوویشت. خویندې چې به مې د هغې خلاصون ته راغلې، نو له وېښتانو به یې ونیولې. په خدای باور وکړه، چې اوس مې هم د خویندو د سر نیمایي وېښته نشته. دا خو د هغه ورځني عمل و. د کور د خلکو د مړي ژوندي جامې به یې له بکسونو راوویستې، د حویلۍ په منځ کې به یې تیلی ورته کړ. د هغه په دې عمل به حیران شو، چې څه ورسره وکړو؟! که مو واهه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تربورانو او مسلمانانو کې مو نوم بد ېده، بس بې له صبره به بله چاره نه وه.

په ډېرې حیرانۍ مې ورته وویل:

ـ هغه خو ناروغ هم نه و، روغ جوړ ښکاره کېده.

ـ وروه که زما دا کیسه ځوك ولولي، خلك به وایي، چې روانې ناروغي یې لرله، خو قسم په خدای که نه ناروغ و او نه بل څه. ډېر وخت وروسته به مو که کله غوښه یا چرګ پوخ کړ او یوه ماشوم به ترې لږ څه خوړلي وو، نو ټول د یګ به یې پر ځمکه وویشت او په هر څه به پښو وخوت. که مېلمه به راغی، نو مور سره به مې یې د جنګ بانه جوړه کړه، د مېلمه تر تګ وروسته به یې د هغې غریبې په مخ په داسې حال کې چې پام به یې نه و، یو مرګونی ګوزار وکړ. تر ټولو بده یې دا وه، چې یو غټ مېخ او څټك ورسره و، د جنګونو نه وروسته به یې دیکچې او چایبرونه راواخیستل او ټول به یې سورې سورې کړل. که د دغو اعمالو د مخنیوي پر وخت به دې لاس وروړ، نو داسې څه یې درسره کول، چې والله که یې له تومته په پنځه څلوېښتو کالو کې خلاص شوی وای. زموږ په کور کې بې زما نه چې پښې به مې ترې سپکولی داسې څوك نشته، چې یا یې سترګه شنه نه وي او یا یې هم سر څو ځایه مات نه وي. که نورې خبرې یې درته وکړم، نو بیا به وایې به چې څو کاله مخکې دې باید وژلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه خبرو ته ډېر حیران او غلی وم.

- په خدای باور وکړه، چې وروسته له ډېرو کلونو مو ایله دا درې شپې په ارامه خوب وکړ. قسم په خدای که په کور کې هېڅوك هم ورپسې خپه وي. ته خو مې ورور یې، رښتیا خبره مې درته وکړه. هسې د دنیا له شرمه یې فاتحه اخلو، ځانونه خپه ښکاره کوو، خو خلك خبر نه دي، چې مور په دې غم څومره خوشاله او ارام یو؟!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګرداړي کوټ

ماخوستن چې کله کوټې ته راننوتم، نو د دفتر ملګري مې په عجیب حالت کې ناست وو. د چا د سر وېښته ولاړ ښکاره کېدل او د یوه نیم په کې د ګرېوانه تنۍ شکېدلې وه. ګرداړې له نورو لږ وړاندې ناست، خو نن شپه یې سترګې داسې خړې غوندې وې. دواجان چې په غیاب کې موږ ګرداړی باله، د خدای په عظیم الشان قدرت عجیب او غریب انسان و. له سره تر پښو یې بدن یو ډول، چې په تمامه مانا پرې د بامیانو د یوه بې ترتیبه کچالو تسل په اسانۍ کېده. هغه به د خپلې ونې د ټیټوالي د پوښلو لپاره د لویو پوندو بوټان په پښو کول او داسې مزل به یې کاوه، لکه د افغانستان ټول جنایتکاران چې یې په رڼا ورځې وژلي وي.

هغه دوه میاشتې مخکې رانازل شو. په لومړي سر کې یې دنده دا وه، چې دفتر ته ګلپیان، الوګان او نور خوراکي توکي راوړي. د خپلوۍ دې کور اباد وي، دوه میاشتې وروسته د دفتر د مشر په اسلامي لورینه برناحقه منیجر شو، منیجري نه د نعمتونو او امکاناتو یو ډنډ و، چې ګرداړي په کې چټکه لامبو پیل کړه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودۍ جوهر خو يې لاله پښوا نه پيا وړی و، خو منيجرۍ ترې سم ياغي آس جوړ کړ.

له دې وروسته نو ګرداړی هغه پښتوانی ګرداړی نه و، د ګلپيانو، لوبياو او الوګانو خوراك يې موږ ته پرېښود او پخپله به يې بې له چوپان کباب، انرژيانو، شاتو او نورو جنتي نعمتونو نور څه تر ستوني نه تېرول. د هغه په لباس، حرکاتو او ډېر څه کې بدلون راغی. ږيره بربت به يې هر سهار خرييل او د سپريو ډډزو به يې ټول دهلېز پر سر راخيستی و. هغه مصنوعي کبر هم پيل کړ، د چا سره به يې په اسانۍ خبرې نه کولې، خو د خدای کارونه وو، چې دا هر څه ورسره پردي پردي ښکاره کېدل. ګرداړي که به هر څومره ځان عصري عصري کړ، خو خدای چې څوك په طبعي توګه څه ته نه وي جوړ کړی، کله جوړېدی شي. که داسې وای نو زراعتي چورګوړي به په دومره وزن اوس زموږ په ټولنه کې د چرګ مقام تر لاسه کړی وای.

د ژمي د موسم په رارسېدو سره ګرداړي وغوښتل چې خپله سليقه لا پسې ښکلې کړي، ښار ته لاړ او خدای خبر په څو زره افغانيو يې يو کوټ واخيست. د کوټ په اغوستو سره له ګرداړي نه سم د مېلمنو بالښت جوړ شو. لنډه ونه، تنګ کوټ او بيا داسې چې يو څوك دې خېټا هم وي او ورپسې يې د کوټ ټولې تڼۍ تړلې هم وي، تاسې خپله فکر وکړئ، چې څنګه به ښکاري؟! دګرداړي کوټ، کوټ نه، سم د کبر او پوکۍ خورجين و. هغه به تر کوټ وروسته په داسې حالل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې غټ سر به يې بې ضرورته ښورېده، په شمارلو ګامونو د هر چا خونې ته ورننوت. د دفتر کارکوونکي به هم ورته پاڅېدل، خو چې کله به له دروازې ووت، ټولو به له ځان سره افسوس وکړ او بيا به يې په خپلو کې د هغه قوارې او زمانې پورې وخندل. لنډه دا چې له کوټ نه وروسته د ګرداړي حرکتونه د زغملو نه و. له دې وروسته به د دفتر کارکوونکو د هغه پر ځای په زړونو کې د هغه کوټ ته ښېرې کولې او دا يې د ټولو ناخوالو پلار باله. خو نن شپه حالات بېخي بدل غوندې ښکاره کېدل. ګرداړي به د ورځې په اسانۍ چا سره خبرې نه کولې، خو نن شپه په عمومي کوټه کې بې کوټه غلی او خړسترګی ناست و. ما لا د سترګو لاندې ملګرو ته کتل چې په همدې کې د خندا يو زورو پخ شو. د پخ سره داسې خنداګانې شروع شوې، لکه د چا نه چې څوك په تخنولو ساه باسي. يار محمد خو راپرېوت، خپل تشي يې له خندا نه ونيول او په زوره يې وويل:

- واه مورې مړ شوم.

حيران شوم، چې دا څه لوبه روانه ده؟! دې کې ګرداړي صيب په غوسه هغوی ته وويل:

- زه به تاسې سره ګورم او بيا په بيړه ووت.

يوه زوروره او لېونۍ خندا تر ډېره روانه وه، اخر مې ورته په جدي لهجه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اخر خبره څه ده؟ تاسې خو ریشخند راخیستی؟! په داسې حال کې چې لاړې یې له خولې بادېدلې، ویې ویل:

- وئ وئ، یاره مړ شوم. دا د لېوني زوی ګورې؟ په داسې حال کې چې د خندا اوښکې یې وچې کړې. ګرداړی درته یادوم، ماښام راغی، چې تاسې کې چا زما کوټ پټ کړی دی. زر یې راوباسئ. موږ ټول ورته حیران شو، چې دا سړی څه پرتې وايي. بیا یې وویل:

- چې ګوره ښه به درته نه شي، له دې سره یې زموږ مېزونه او بیکونه لټ په لټ کړل، خو کوټ یې ونه موند. اخر مې ورته وویل:

- ګوره ستا په کوټ به موږ څه وکړو؟ دا د ماشومانو خبرې مه کوه. مازیګر دې اغوستی و، موږ خو څه ماشومان نه یو چې کوټ دې پټ او وایې غوندو. بس یاره د ماشوم خبره نه وه، د ټوپک ډز و، ګوزار یې کاوه، لاس مې ورته ونیو، ښه وو، نورو سره خلاص کړو. بیا مې ورته وویل:

- ګوره وروره، ستا کوټ خو زموږ تخرګ کې هم نه راځي چې د ځان دپاره یې پټ کړو. ته فکر وکړه، ښار ته تللی وې. چېرته به درنه ورک شوی وي!

ښه و، سړی لږ غلی شو، تر لږ سوچ وروسته یې وویل:

- رښتیا په ښار کې مې په غاړه و، خو د پل خشتي جومات له مخې چې راتېر شوم، نو کوټ مې په ځان نه و. اشنا دا خبره نه وه، سم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا ډز و. ګرداړي نه په کوم تېل کې د پل خشتي کيسه برانو په ژوندينې کوټ ايستلی دی، خو دعوه يې په موږ وکړه. خدای شته، د يار محمد په دې خبره ما ته هم خندا راغله، خو زه دې سوچونو په مخه کړم، چې افغانستانه! څه کښو کوترو وخوړې؟! په رښتيا هم څوك چې څه ته جوړ نه وي، نو په پتلونونو او کوټونو ترې په يوه ځای کې هم څه نه شي جوړېدای!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مفتي داړې

پلار ته مې دې خدای انصاف ورکړي، په دربېیم ټولګي کې وم، چې برناحقه يې له ښوونځي نه بهر او په مدرسه کې داخل کړم. برناحقه مې ځکه وویل، چې نه راباندې سر دروند و، نه بېکاره غوندې وم، خو پرته له شرعي عذره يې په لوی لاس له ښوونځي وويستم او که ثوك راباندې د کفر ټاپه ونه لګوي، نو ښه سهي زياتی يې راسره وکړ. سره له دې چې په کوچنيوالي کې مې پنځه وخته لمونځ کاوه، خو د ساده ګانو دې کور وران شي، زما پلا يې په دې تېر ايسته چې زوی به دې ګواکې په ښوونځي کې کاپر شي.

مدرسې ته چې لاړم، نو په يوه او دوو کې ګېر شوم، د ښوونځي او د دې ځای چاپېريال کې راتـه ډېر تـوپير ښکاره شو، د استاذانو د رويې شدت او د نويو درسونو سره اشنا کېدل، راته په لومړيو ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لوی پېټی ښکاره کېده. د تېښتې لار مې نه وه، خو اخر د سختو او مسافرۍ سره روږدی شوم، خو داسې ورځ به نه وه، چې د ښوونځي د وختونو ټولګیوال به مې سترګو ته نه درېدل. د هغوی په یاد به مې زړه یو سپېڅلی درد وکړ.

کرار کرار مې هغوی هېر کړل، خو سره له دې به مې کله نه کله یو نیم په خوب لیده.

زموږ د درسونو د محتوی ډېره برخه د اخرت د ثوابونو د ګټلو، د جنت د تر لاسه کولو او دنیا سره د کرکې په برخه کې وه. ځینې وختونه به مې زړه دروند دروند کېده، د وخت په تېرېدو سره راته د دنیا نور خلك لوی لوی ګناهکاران او خپله خبره به راته د کاڼي کرښه ښکاره کېده.

ټولګي ته به پر نورو استاذانو سربېره کله نه کله د مفتي صیب په نامه داسې یو څوك چې په سترګو کې یې ځانګړې اغېز و، هم راته. هغه په موږ درسي ساعت نه درلود، خو د حورو، غلمانو او جنتونو خوندورې کیسې به یې کولې. د مفتي صیب خبرې به په داسې انداز وې، چې هلکان به یې خامخا پر ځانونو مینول.

په پای کې د مفتي صیب په خبرو دومره مین او ګروهمن شوم، چې د نورو استاذانو خبرو ته به مې سم غوږ نه نیوه او د هغه د راتللو شیبې به مې شمارلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مفتي صيب سره د مينې له کبله مې هغه اوږده مسافري، چې خپل ورونه، وړې خويندې او مور به مې هر وخت سترګو ته ولاړ وو، هم داسې هېر شول، لکه څوك چې دنيا ته يتيم راغلی وي.

په دغه وخت کې به ايله د اولسو کلونو وم، د مفتي صيب د جنت، شهادت او د هغه ځای د نعمتونو کيسو مې نور هم په زړه کې ځای ونيو. د هغه پر له پسې خبرو داسې کړم، چې د دنيا ډېر مسلمانان راته سوچه کافر او واجب القتل ښکاره کېدل. ژوند راته يو بې مفهومه شی ښکاره شو او پر ذهن به مې تل د جنتي حورو او غلمانو مينه حاکمه وه.

خو يوه ورځ چې ټولګي ته لاړم، نو حيران په دې شوم، چې دا ځل مې په ټولګي کې پخواني ټولګيوال ډېر کم او ډېرې يې زما د عمر هلکان وو. هغوی ټول له څېرو نه ډېر بې ګناه او سپېڅلي ښکاره کېدل.

ما لا هغوی ته د سترګو لاندې کتل، چې مفتي صيب په سپينو جامو کې راغی، خو د نن ورځې خبرو يې له پخوا سره توپير درلود. هغه وويل:

- نن خو چې تاسې ته ګورم، نو په رښتيني راته د جنت شهزادګان ښکارئ. ستاسې د هر يوه په څېره کې راته د جنتي نور وړانګې له ورايه ښکاري.د شکر ځای دی، چې منان خدای خپلو جنتيانو ته په دې دنيا هم د حورو او غلمانو بشارت ورکوي. لوی خدای کله هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید وینه نه ضایع کوي. یو انسان چې د خدای په لاره کې دومره قرباني ورکوي، نو د هغه قرباني به څنګه بې بدله پاتې شي. هغه نورې خبرې هم وکړې، چې د غرمې د ډوډۍ وخت شو.

د خوراك ځای ته چې کله ورسېدو، نو حیران شوم. د هغې ورځې خوراك د نورو ورځو په پرتله ډېر ښه او ښه خو لا دا وه، چې په دې ورځ داسې رنګین شربتونه وو، چې موږ په کلونو کلونو لیدلي نه وو. د خوراك په وروستیو شېبو کې مفتي صیب په شمارلو قدمونو راغی او په مهربانۍ او موسکا سره یې وویل:

ـ جنتیانو! مشروبات ډېر وڅښئ، داسې ورځ کله کله وي. موږ بې د هغه له هدایته هم ګیلاسونه ګیلاسونه څښلي وو، خو د هغه په بیا تاکید مو ټول بوتلونه پر سرونو راواړول.

نیم ساعت وروسته ټولګي ته بیا ولاړو، خو دا ځل مو په بدن کې داسې بدلونونه راغلل، لکه څوك چې خوبولی یا په متوسطه اندازه نشه وي. د هرې شېبې په تېرېدو سره به مو د مفتي صیب د حورو خبرو په ذهن کې انګازې کولې. لږ وخت وروسته داسې شو، چې خپله جنس غریزه راباندې بره او بیا داسې شو، چې د عشق څپې مو توپاني شوې ، هر یوه یو پر بل لاسونه اچول، زما بدن د خوندورو شهوتونو سمندر او داسې شوم، لکه هر څه چې مې له واکه وتلي وي همدې کې د ټولګي په هغه پراخ او لوړ ځای کې چې مفتي صیب به پرې ولاړ او خبرې به یې کولې، داسې پېغلوټې نجونې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایست او نازونو پرې تمامه وه، راښکاره شوې. نجونې سر تر پایه د مینې او عشق په خومار لمبېدلې وې. هرې یوې به موږ ته د مینې بلنه راکوله. په پای کې له کنټروله ووتو، په کرار کرار ورپاڅېدو، خو دومره متره راکې نه وه، چې ویې نیسو. هغوی به رانږدې او د مینې اظهار به یې کاوه، خو موږ د هغې ناپایه تلوسې سره چې لرله مو، ونه توانېدو، چې په غېږ کې یې ونیسو، داسې وخت کې به یې یوه خوږه موسکا وکړه او له موږ به لرې شوې. دې کار تر یوه وخته دوام وکړ، خو تر پایه بریالي نه شو، چې د خپلې مینې تنده پر دغو حسینو ماته کړو. په پای کې ټولې پرې مخې روانې شوې او چې کله موږ ورته له تلوسو نه په ډکو سترګو ورکتل، نو د بلنې لاسونه یې اسمان ته ونیول او دا نغوته یې راکړه، چې ګواکې هلته به سره ګورو.

د هغوی په تللو مې یو نه خړوبېدونکی ارمان په زړه کې نیمګړی پاتې شو، چې همدې کې مفتي صیب راغی. هغه ته مې په لنډو ټکو کې د راغلیو نجونو کیسه وکړه. له دې سره یې په لږ لوړ غږ وویل:

- ما شا الله، تاسې ته خو په ژوندینې د جنت زېری شوی دی، تاسې چې څه لیدلي دي، هغه جنکۍ نه، د جنت حورې وې. ښه ده چې رب العزت زما خبره تاسې ته ډېر زر رښتیا کړه. خو دا به د هغه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نصیب کېږي، چې لوی خدای ورته لومړی د شهادت عالي مقام ورکړي. د شهادت د ټکي په اورېدو موږ ټولو په لوړ غږ وویل:

ـ مفتي صیب موږ ټول شهادت غواړو. مفتي صیب وویل:

جزاك الله. د لوی رب حقیقي مومنان تاسې غوندې وي، زه به مولانا صیب ته تاسې معرفي کړم، چې د شهادت اسباب درته تیار او چې ژومره زر کېدای شي، تاسې د دغه الهي نعمت سزاوار کړي. مفتي صیب د مدرسې په یوه برخه کې خونه راوښوده، تر ټولو مخکې زه لاړم. هلته مولانا صیب په خاص ډول پر چوکۍ ناست و. د احسان په ډول یې وویل:

ـ شهادتخو داسې اسانه د هر چا نه په نصیب کېږي، سر په سر دوه ورځې به راشې، تر څو په خپل مشن کې کامیاب او سرفرازه شې. ,
دشپې به مې کرۍ شپه هماغه ښکلې نجونې به خوب کې لیدلې. په دوو ورځو کې یې د انتحاري واسکټ د الوځولو ټول تخنیکونه راوښودل. په اخرنۍ ورځ مې ورته وویل:

ـ مولانا صیب! د شهادت نه وروسته خو به هاغه نجونې رښتیا هم راسره وي؟.

په شونډو کې یې ترخه موسکا وکړه:

ـ برخورداره! تا ته د جنت د کټلو سرټیفیکیټ درکول کېږي، مفتي صیب به یې په خپلو مبارکو لاسونو سره درته دستخط کړي. رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په درېیمه شپه مفتي صیب د جنت د ګټلو ډیپلوم موږ درېو کسانو ته راکړ. په ډیپلوم کې لیکل شوي وو:

تصدیق کېږي، چې محمد یاسین د شین ګل زوی د افغانستان د ....... ولایت اوسېدونکی د خدای په لار کې د شهادت له امله د جنت مستحق او مناسب شخص دی. دا تصدیق د دې دپاره ورکړل شو، چې د شهادت نه وروسته یې مور و پلار په خپل مایه ناز زوی افتخار وکړي او د قیامت په ورځ لوړ سرونه وګرځي.

مفتي اعظم بقلم خود (            ).

د جنت د اجازه نامې په لیدو بېحده خوښ او مفتي صیب راته نور هم ګران شو. د حورو او غلمانو پسې نور نږدې لېونی شوی وم. نور نو د مدرسې هره شېبه راته کال ښکاره کېده، خو په همدې تلوسه کې یې ماخوستن مهال درې واړه په موټر کې کېنولو. خدای خبر په څومره وخت کې خپل منزل مقصود ته ورسېدو. یو وخت چې مې سترګې خلاصې کړې، نو د کابل ښار په یوه کور کې ناست وم. مفتي صیب مې ونه لید. د هغه پر ځای مې یو بل سړی مخې ته ناست و. سهار وختي ټولو ته د پېچکاریو وهل پیل شول، خو نه پوهېږم، چې زما برخه څنګه خواره وه، ما ته یې چې کله وهله، نو د ستنې نه ډېر مواد مې له متې لاندې وبهېدل. سړي لږ ښار کې وګرځولم او بیا یې له یوه ښوونځي نه درې سوه متره وړاندې په داسې حال کې چې تر کمیس لاندې مې ځانمرګی واسکټ اغوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، ودرولم. سړی رانه لاړ، ما لاحیران حیران کتل، چې دې کې مې پر یوه نږدې سړي سترگې خوږې شوې. سړي ته مې شېبه په شېبه کتل، سترگې یې بالکل د مفتي صیب په څېر وې، خپلې سترگې مې وموښلې، بیا مې وروکتل، هغه هم خپلې سترگې په سترگو کې رادننه کړې، زه گرم نه وم، دغه سړی ړیره پاکه خریېلې وه، خو نور کټ مټ د مفتي صیب غوندې و. په حیرانۍ مې ورته وویل:

ـ ته خو بېخي د مفتي صیب غوندې یې؟! پر مخ یې د قهر څپه راښکاره شوه:

ـ ستا یې د مفتي صیب سره څه؟! هغه وړاندې مکتب گورې، هغه چې ډېر ماشومان یې مخې ته ولاړ دي، د هغوی منځ ته ورشه او خپلې بتنې ته دې زور ورکه! هله برخورداره.

د برخوردار په ټکي مې شك په یقین بدل شو. د مفتي ښویه مخ راته ډېر بد ښکاره شو. حیران شوم، چې مفتي خپله لویه ړیره ولې خریېلې ده؟! په کتو کتو راته مفتي یو لوی شیطان ښکاره شو. ورته ومې ویل:

ـ مفتي صیب! ستا خو ډېره لویه ړیره وه، هغه سنت دې څه شول، دا ولې؟ هغه سترگې رابرگې کړې:

ـ گوره همدلته دې اوس په سر په تومانچه ولم. هله زر شه، د جنت حورې به دې انتظار کوي، ورشه د هغو ماشومانو په منځ کې ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



والوځوه. د ماشومانو لوري ته مې وروکتل، خپل پخواني ټولګيوال مې سترګو ته ودرېدل، هغه د بېوزلو زامن، چې په څومره کړاوونو به ښوونځي ته راتلل:

ـ مفتي صيب! دا خو ډېر واړه او بيا مسلمانان دي، دا څنګه والوځوم. هغه سترګې راسرې کړې:

ـ د همدې ماشومانو نه کافران جوړېږي. دوی واجب القتل دي. ماشومانو ته مې بيا يو ځل وروکتل، هغوی راته ډېر بې ګناه او پاك ښکاره شول. نه پوهېږم، چې ولې مې د جنتي حورو په بدل کې دا سودا خوښه نه شوه. په کلکه مې ورته وويل:

ـ مفتي صيب! خوښه دې نه ده، چې واسکټ تا ته درکم؟! دا حورې او غلمان دې تا ته مبارك وي. له دې سره د مفتي پر مخ يوه خړه پرده راغله او په غوسه يې وويل:

ـ دوزخي! زه چې نه يم، نو دا نور به څوك جنت ته ولېږي، جاهله! ته د دين په خبرو څه پوهېږې؟!! د دوزخي د ټکي په اورېدو نور هم حيران شوم. زړه کې مې وويل، چې دوزخي يم، نو جنت به څنګه وګورم؟! زړه مې و، چې په همدې واسکټ مفتي صيب باد باد کړم، خو د اخري ځل لپاره مې ورته وويل:

ـ زه کله هم دا ګلالي ماشومان نه شم وژلې. ما ته دا ډېره ګرانه ده، چې د دوی سپينې کتابچې د هغوی په پاکو وينو سرې کړم. له دې سره مفتي واسکټ ته لاس او تومانچه يې راوويسته، خو تر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یې راباندې ډز کاوه، نو په یوه درونـد سوك مې پر خولـه ښـه جوخـت وواهـه. سـوك نـه سـمه چـارکۍ تیـره وه، د مفتـي مخـامخ غاښونه پر سرك پراته، خوله یې له وینو ډکه او یـوه لویـه کړیکـه یـې وکړه، د کړیکې سره له یوه اوږده دردمن خوبـه راویښ، خو لاس مـې د دېواله سره د ګوزار له امله تر ډېره درد او ځړیکې کولې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درواغو بوسارې

چې رښتیا وي، نو درواغ به هم وي، د رښتیاو ښکلا د درواغو له امله ده. خو په هر شي کې حد او اندازه بیا تر ټولو اړینه او په ځانګړې توګه په درواغو یا نورو منفي کارونو کې خو ورته پام کول تر هر څه ضروري دی. سره له دې هغه خلك چې په اوسني وخت کې درواغ نه وایي، له بې شمېره اقتصادي، ټولنیزو او نورو ستونزو سره مخ دي او د درواغو په اوسني بازار کې یې هر ډول هنر ناچله دی، خو داسې هم نه ده په کار چې یو څوك دې د درواغو په وسیله په رښتیاو داسې یرغل وکړي، چې یو ډېر ساده یې هم ورسره نه شي منلای.

د درواغو ویل یو ځانګړې هنر غواړي، نو د دې لپاره چې د ښاغلو درواغ هسې ضایع نه شي، نو په کار ده، چې په دې برخه کې له احتیاطه کار واخلي، د بېلګې په توګه یو پیاوړی سیاستوال کولای شي، چې په خپلو منطقي درواغو د یوې ټولنې ډېر ړانده او کاڼه وغولوي. د دې خبرې ژوندۍ بېلګې موږ او تاسې د سر په سترګو وینو. تاسې به په خپل چم ګاونډ کې په لسګونو داسې خلك ووینئ، چې کلونه کلونه یې سپېڅلي شعارونه ورکړل، خو په عمل کې د وېرونکو او څېرونکو څېرو په بڼه راښکاره شول. په خواشینۍ سره د دغو عزتمنو مناسبه ستاینه ونه شوه ، اړینه خو دا وه، چې د ډیموکراسۍ په دې پېر کې چې د هر انسان حقوق په کې په خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ډول خوندي دي، باید د یوه مدني بنسټ یا خیریه ټولنې له خوا دغو خلکو ته د نړۍ د سترو درواغجنو مډالونه ورکړل شوي وای.

ښایي همدا لامل وي، چې دا ډول خلك اوس بیا راپاڅېدلي او د دروا‌غو د تېرو حقوقو د نه ورکړې له امله یې یوه نوې مبارزه پیل کړې او د تلوېزونونو او راډیوګانو د ګرديو مېزونو د پروګرامونو له لارې یې نااشنا کوکې پیل کړي دي. دا خلك خپله دغه غوښتنه په داسې انداز کې کوي، لکه څوك چې دیني فرایض د زړه له تله تر سره کوي.

دا جنابان د دې غوښتونکي دي، چې مجاهدینو ته باید د دې وخت ورکړل شي، چې د ښارونو یا هېواد دفاع وکړي. دا ډېره ښه خبره ده، خو په پښتو کې یوه اصطلاح ده، چې ( دروغ وایه، په شرع یې روغ وایه ). پوښتنه دا ده هغه څوك چې رښتینی مجاهدین وو، نو هغوی خو پنځه دېرش کاله مخکې شهیدان شول. که څوك ترې ژوندي پاتې شول، نو هغوی په کورونو کښېناستل او تر اوسه پورې یې اولادونه د یوې ګولۍ ډوډۍ لپاره وچې شونډې ګرځي او پر تاسې نور تر قیامته باور نه کوي او که دغه ښاغلي لویو غلو، لوټمارانو او د هېواد د ملي ګټو دښمنانو ته مجاهدین وايي، نو بیا خو په شرع روغ دروغ نه وايي. همدارنګه که له پاتې ژوندیو مجاهدینو نه لښکر جوړوي، نو د هغوی عمرونه خو شپېتو کلونو ته رسېدلي دي. څوك به د وینې د فشار ناروغي لري، څوك د شکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څوك هم د بل څه. ځکه نو د بوډاګانو دا لښکر به په داسې حال کې جنګ کوي، چې د چا په لاسونو کې به د سیروم خلتې ځوړندې وي، څوك به د شاجورونو د ډکولو پر ځای د تهوخي شربتونه څښي او د چا مفصلونه به د نورو په وسیله کېمنډل کېږي. دا به نو د نړۍ یو نمونه یي لښکر وي. بلـه دا چې دا کره خبره ده، چې پانګوال او په ډالرو ماړه کسان کله هم جنګ نه کوي او نه یې کولای شي. د دې ډلې مشران خو اوس هغه پخواني خلك نه دي، چې بانجان به یې هم په چوب خط راوړل، اوس خو د دوی لمسي یوازې د ایسکریم په خوړلو پسې دوبۍ یا سریلانکا تـه ځي، ایا دا ډول نـازولي به د یـوه ډز سره ټرت و نه وهي؟! په اصل کې دا خلك د خپلو پانګو، ماڼیو او د ځمکې پر مخ د جنتي دوامداره ژوند غوښتونکي دي.

په کار خو دا وه، چې د دې ډلې غړو د ټول افغانستان د خلکو غـږ پورته کړی وای، ویلي یې وای چې د هېواد ټول خلك د افغانستان ژغورلـو تـه تیـار دي. دریغـه پـه یـوې خپرونـې کـې تـرې هـم یـوه ژورنالیست ونه پوښتل، چې وروره! ترننه خو مو لږ واړه واړه درواغ ویل، اوس مو ښکرور پیـل کـړل؟!. تـا خـو نـه مخکـې جهـاد کـړی او اوس که یې کوئ، نو لومړی بـه بـل چـا تـه پـه شـا کېـږې او بیـا بـه ډز کوې. ستا ډز تـه مـو دوه لاسي سلام دی،ا تـا چـې کـوم ګـلان کرلـي، ډډزو یې لااوس هم د هېواد فضا معطره کړې ده، ځکـه نـو خیـر دی، نورې دا د درواغو بوسارې مه بادوه!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمود فریاد

کور اباد چې په دې ګډوډۍ کې زما درناوی لاهم در په یاد او نړیواله ورځ مې نمانځئ. دا کار ستاسې د وفا او مینې استازیتوب کوي، ګنې په نن وخت کې څوك د پلار یا سکه ورور ورځ هم نه نمانځي.



که رښتیا ووایو، ستاسې هم پرته له ما بله چاره نشته، ځکه مې نو ستاسې په مینه کله نه کله شك پیدا شي. خیر زه له ډېرو ګیلو تېرېږم او په دې مو ښنم، چې تاسې خپل ډېر رازونه له خپلو، پردو، دوستانو او ولس نه پټ کړي، خو ما سره په مینه کې دومره اخلاص لرئ، چې شیرین لاله فرهاد سره نه وه کړې.

زه په رښتیا هم ستاسې تر ټولو ډېر پرده دار او رازدارملګری یم. ستاسې تر ټولو مصئون ځایونه زما نه پټ نه، بلکې داسې ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چې د دومره لوی اخلاص ښېلګه په هېڅ یوه بشر دوسته هېواد کې هم نشته.

خو زما صبر او اوسپله به ګوره هم منئ! ستاسې د ګېډې د ماشین هر ډول ناخوالو ته مې سینه د افغانستان په څېر سپر کړی، ګنې کومې نادودې چې ځینې وختونه ستاسې لوري له ما سره کېږي، په یوه کتاب کې هم روا نه دي. کله مې ټول چاپېریال بمبارد کړئ او کله مې هم ستونی بند .

له دې وروسته نو ستاسې د نادودو نوې لړۍ پیل شي، څوك راپسې اوږده لرګي راواخلي او په ستوني کې مې وهي او ځینې خو مې خوله له زهرجنو تېزابو ډکه کړي. تا او خدای د داسې یوه خدمتګار سره چې ستاسې هر څه ورته په پوره صداقت سره مالوم دي، دا مناسبه ده؟!
حال دا چې ګناه ستاسې، خو سزا یې ما له راکوئ. که دغو ښاغلو او اغلو د خپلو ګېډو سره انصاف کولای، نو هم به زه او هم به اشرف المخلوقات د دې نادودو سره مخ نه و.
بله ناروا مو دا ده، چې تر پر له پسې ویشتلو چې زه ورسره مخامخ یم، بیا مې لاخوله په لوټو بندوئ. څوك راکې پلاستیکونه ړدي او ځینې خو مې ساه په زړو دستمالونو او جرابو بندوي. پوښتنه نشته، ګنې د یوه محسن سره داسې چلند خو په خدای که په کار وي؟!
اخر زه هم نور تنګ شم، د ساه اخیستلو لپاره بله لار نه لرم، مجبور یم چې ستاسې ډالۍ بېرته کانګې او در یې کړم. که په دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر وکړئ، نو درمالومه به شي، چې ډېرو ته خو د ژوند تر پایه هم، لويي او غرور نه دی په کار.
.خو د دغې عملیې مخنیوی تاسې په لږه خوارۍ کولای شئ. د خدای لپاره تر هر څه لومړی پر ما سم کېنئ، تر کېناستلو مخکې د اوبو غم کوئ. تر ډالۍ وروسته مې په خوله کې اوبه ډېرې اچوئ، تر څو مو نادوده په یو څه اسانۍ تېره کړم.
ګرانو دايمي دوستانو! دا چې نن ورځ مو زما په نامه نړیواله کړې، نو په پای کې د خپلو حقوقو په لړ کې یو وړاندیز لرم. هغه دا چې زه ستاسې هر ډول ناخوالې په ورین تندي منم، له لوټو، ډبرو او تېزابو نیولې تر بلې هرې ستونزې پورې مو دوست زغم ته حاضر دی، خو د خدای لپاره له هغو خلکو چې د نورو حقونه یې خوړلي، حرام کبابونه او نعمتونه خوري او د خدمت په نامه د بېوزلو وینې څښي، د هغوی د موادو په تش بوی مې نوره زاره چوي. هیله لرم، چې په راتلونکې کې زما په وړاندې د دې ډول خلکو د راتګ بندیز ولګوئ. زه هر ډول سپکاوی زغملی شم، خو پر ما باندې د دوی کېناستل راته نور په یوه قانون هم د منلو وړ نه دي. که تاسې یې د جنایتونو مخه نه شئ نیولی، نو لږ تر زما او زما د عزیزانو دروازې خو پرې بندې کړئ. له دې سره به تاسې د هغوی له شره خلاص او زه به یې د نه زغمونکو بویونو له عذابه خوندي پاتې شم!! ظالمانو دا خواني خو وکړئ، کنه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رښتینی ستاینلیك

د دفتر حاضري چې مې ځنګه لاسلیك کړه، نو ملازم مې د کور د کرایې غوندې نېغ شا ته ولاړ و:

ـ رئیس صیب غوښتی یې!

حیران شوم، چې په دې شنه سهار کې ورته ځنګه ګران شوی یم. دروازه مې وروټکوله او ورغلم.

ـ السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

سړي سپېړه مې د پېښور د کوڅو غوندې تنګې او تندی یې د تایمني د اوبو په څېر تریو کړ. زړه کې مې وګرځېدل، چې ښایي په دې خپه شوی وي، چې دومره اوږد سلام مې ولې وکړ، اوس خو شاټ کټ زمانه ده، هر څه په یوه یا دوو ټکو کې خلاصه کېږي. په احترام مې وویل:

ـ صیب! لکه چې تاسې غوښتی یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي سترګې داسې راپورته کړې، لکه پلار چې يې همدا ما په ډېرې بې رحمۍ په شهادت رسولی وي:

ـ ته ړوند يې که عقل در نه چا پټ کړی دی؟!

حيران شوم، چې دا څه په ګډو وډو سر دی.

بيا يې وويل:

ـ دا زما تېروتنه ده، چې تا غوندې انسان ته مې په خپله اداره کې دنده ورکړه، اوس دې په موږ پورې هم خندا شروع کړه!

خدای شته د ړوند او عقل نه خلاص په ټکو مې خوا ډېره بده شوه، زه غريب وم، خو د داسې خبرو د اورېدو اوسپله مې نه لرله، سره له دې مې په کرار ورته وويل:

ـ تاسې خو ما په خبره پوه کړئ، چې څه تېروتنه رانه شوې ده؟!

په کلانکارۍ يې په مېز پروت يو پلن کلك کاغذ لاندې راوغورځاوه:

ـ ته به داسې ستاينليك ليکې؟! ما ته خو له لومړي وخت نه ډېرو ويلي و، چې دا سړی مقرر نه کړې، دا يو بېباکه انسان دی، د رښتيا په ويلو کې د ماشي غوندې د انسان په سترګو کې ننوځي.

د ستاينليك په ورځ پرونۍ ورځ رایاده شوه.

په هغه ورځ چې زه د دفتر يوې کوټې ته ننوتم، نو تر اوياو ډېر ستاينليکونه مې وليدل، چې دېوالونو ته ځوړند وو. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینلیکونه د عجیبو او غریبو خلکو له خوا نه زموږ اداري ته ورکړل شوي وو، لکه ملکان، د جومات ملایان، د پروژو شریکان، دوکانداران،ولسوالان، سرمعلمان، نجاران، خیاطان، قصابان او داسې نور.

د ستاینلیکونو په لیدو په دې حیران شوم، چې رښتیا هم زموږ په هېواد کې پسات دومره لوړ ټکي ته رسېدلی، چې پورته ترې نور پرته له هوا بل څه نشته. پخوا به په سلو کسو کې ایله یوه ته د یوه ډېر غوره کار له امله ستاینلیك ورکول کېده، خو اوس له هر چا سره په بوریو بوریو ستاینلیکونه پراته او ښایي ډېرو خپلو ستاینلیکونو ته په ترکاڼانو ځانګړي بکسونه جوړ کړي وي. په زړه پورې خو دا چې د دغو ستاینلیکونو په خلکو کې بې شمېره غله، نالوستي، لېونډرتان او حتی لېونیان د دې لړۍ د کتار په سر کې راځي.

د ستاینلیکونو په لیدو مې سوړ اسوېلی وکړ، خو همدغه تاثر مې ټوله ورځ پر ذهن حاکم و، چې د ستاینلیك په لیکلو مې پیل وکړ.

په همدې کې راباندې رئیس غږ کړ:

ـ ایا ستاینلیك همداسې وي، چې تا د خریدارۍ امر صیب ته لیکلی دی؟

ته یې ولوله!

له سوچه راویښ شوم او د ستاینلیك په لوستلو مې پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د خلکو د ذهني وړتیا د سولولو موسسه

ستاینلیك

په الهي عذاب ککړ د خریدارۍ امر صاحب!

السلام علیکم.

د ویاړ ځای دی، چې تاسې غوندې فعال او په ما مین چالاکه انسان د پېرزوینو او عاطفې نه اینجانب بې حده مستفید شوی او لا یې د فیوضاتو لړۍ دوام لري. له هغې نېټې نه چې تاسې دلته په خپلې سپېڅلې دندې پیل کړې، نو له اقتصادي پلوه، زما او زما د ټولې کورنۍ په ژوند کې قسم په خدای حیرانوونکی بدلون راغلی. په لږه موده کې مو د کورونو، ګرانبیه موټرو او د خدای د بې شمېره نعمتونو خاوند کړم. دا ستاسې برکت او ځانګړې مهارت دی، چې حتی یوازې د کور د لګښتونو لپاره پرته له معاشه ما ته د میاشتې څلور زره ډالر په منظمه توګه په پاکټ کې په شریفانه ډول رږدئ. ستاسې د ستاینې وړ بل ټکی دا دی، چې د چا پلار مو هم کله په حسابۍ کې کمی نه شي پیدا کولی. رښتیا هم زموږ په هېواد کې دا ډول استعدادونه ډېر لږ پیدا کېږي. ځکه نو تاسې ته په ډېر ادب دغه ستاینلیك درکوم او همدارنګه مالي څانګې ته سپارښتنه کوم، چې د لاهڅونې لپاره تاسې ته د عمرې شریفې ټول لګښتونه برابر او د خیر په دغه کار کې عاجل اقدام وکړي. زه یو ځل بیا یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم، چې ربښتیا هم دا هېواد تا غونډې شریفو او په اصولو پوهو خلکو ته شدیده اړتیا لري، دې ځای کې لاژمه ګڼم، چې د هغه هوښیار هغه خبره یاده کړم، چې ستاسې غونډې خلکو ته یې په عجیب انداز کې ویلې ده:

په دنیا ښه راسره وکړه

په اخرت کې د هر چا بېل دي کورونه

ستاسې د لابریالیتوب په هیله

( )

الحاج میر تنور الدین

د سولېدلې موسسې مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ریالیست جاسوس

دا دی نن مو د هېواد له یوه نومیالي، پیاوړي او عزتمن جاسوس سره مرکه کړې، چې تاسې یې لوستلو ته رابولو:

ـ ټولو نه مخکې تاسې نه مننه کوم، چې مرکې ته حاضر شوئ، خو هیله لرم، چې پرته له کومې وېرې به ځوابونه راکړئ؟

ـ هههههه برخورداره! ځوك چې له خدایه نه وېرېږي، نو انسان خو ډېر کمزوری شی دی، له دې به ځنګه ووېرېږي، یاره دا پوښتنه خو دې بېرته دروا خلهٔ!

ـ خبره دې سمه ده، خو بیا هم ډېر کم انسانان دي، چې د خپلو جنایتونو نه دې خلکو ته پرده پورته کوي او له چا دې ونه وېرېږي، ته لومړنی کس یې چې داسې اخلاقي جرئت کوې؟

ـ وېره هغه وخت یو چا ته پیدا کېږي، چې د وېرې اچوونکي نه پوښتنه وشي، له نېکه مرغه دلته خو دا خبره نشته او بله دا چې ډېری مسوولین زما د لارې ملګري او زما په خبر دي، نو ته اوس ووایه چې زه باید ووېرېږم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ډېر معقول ځواب، په خوله کې دې راته خبره وچه کړه، خو خیر دا پوښتنه یو ځل بیا تکراروم، ته په رښتیا د هېڅ ډول انسان نه نه وېرېږې؟

ـ نه ما داسې نه دي ویلي، چې زه د ټولو انسانانو نه نه وېرېږم، زما مطلب دی، چې په افغانستان کې له هېچا نه وېرېږم، خو د خپل بادار مخکې مې بیا سپږ هم نه شم کولای.

ـ ایا دا یو بې ایمانه کار نه دی، چې له خپلو دې سترګه نه سوځي، رحم پرې نه لرې، خو د یوه پردي په مخکې بیا د یوې کښې کوترې غوندې یې؟

ـ تاسې به اورېدلي وي، چې د انسان یو ځل سترګې وشکېږي، نو بیا په هېڅ هم نه شرمېږي او بیا خو زما په دې کار کې کلونه کلونه وشول، نو ځکه اوس خپل بادار ته لاس په نامه ودرېدل، راته نسوار هم نه ښکاري.

ـ مننه، په دې پاك او راټه ځواب، خو په دې مې پوی کړئ، چې یو جاسوس انسان په څه پېژندلی شي؟

ـ دا دې ښه پوښتنه وکړه، د ټولو نه مخکې که د یوه جاسوس سترګو ته په ځیر وکتل شي، نو یو ډول خړوالی په کې وي، ورپسې نښه یې دا ده چې د یوه رښتیني جاسوس د مخ څېره مسخه شوې غوندې ښکاري، د خبرو په وخت کې به د سترګو لاندې خلکو ته ډېر ګوري، ذهني استقرار یې داسې ناجوړه غوندې وي. په دنیاوي لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپي د شتو خاوند کېږي، خو دلته باید یادونه وشي، چې ځیني مسلکي غله هم کېدای شي، چې ناڅاپي د شتو خاوندان شي، خو د جاسوس سره یې توپیر دا دی، چې دا ډول خلك ځانونه خلکو ته د ملایکو غوندې ښکاره کوي، بس په هره خبره کې دین یادوي، تسپې ډېرې اړوي راړوي، د لویانو فاتحو ته هم ډېر ځي او ...

ـ خیر یوسې، همدومره بس دی، ستاسې په اند کوم ډول خلك په جاسوسۍ کې ښه فېټ کېدای شي؟

ـ حریص، سیالیمار، کم ذاته او کله کله هم ډېر مجبور خلك.

ـ ډېر ښه، خو د دوی پر فعالیتونو که لږه رڼا واچوئ، خوښ به شم؟

ـ د هرې استخباراتي ادارې جاسوس ځانله دنده لري او چې څه ورته وویل شول، باید هغه په پوره ځیرکۍ سر ته ورسوي، د بېلګې په توګه په خلکو کې شرارت اچول، په ملي مسایلو کې د یو ملت د یو ځای کېدو مخه نیول، پر هېواد د مینو خلکو د خدمت مخه نیول، د ملي شخصیتونو ترور کول، پوځي ځایونه او د هغوی د امکاناتو راپور، د نورو کولتور ته کار کول، لنډه دا چې هره هغه لوبه کول، چې بادار ته یې ګټه ولري.

ایا تاسې په هېواد کې د نورو هېوادونو له جاسوسانو سره هم بلد یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هههه ډېرى مې ډېر نړدې ملګرې دي، په اونۍ نيمه کې سره باندارونه لرو، مېلې او چړچې کوو.

ـ ستاسې په خپلو منځونو کې خو به کومه سيالي يارقابت نه وي؟

ـ نه، داسې جدي کومه سيالي نشته، خو غرور شته او هغه په دې مانا هر يو چې د کوم پياوړي هېواد جاسوس وي، نو پر نور ځان لوړ ګڼي او وياړ پرې کوي.

ـ ستاسې په نظر د يوه جاسوس تر ټولو خطرناك كار كوم دى؟

ـ کارونه خو يې ټول خطرناك دي، خو زما په فکر، د يوې ټولنې د ارزښتونو له منځه وړل يې تر ټولو خطرناك کار دی، تاسې ګورئ، چې دا څو لسيزې په افغاني ټولنه کې زموږ پر مټ همدا چاره تر سره شوه، نالوستو، قاتلانو، او د هغو خلکو نه لوى لوى خلك جوړ شول، چې چا پرې پاده هم نه ساتله. د دې کار اغېز دومره پياوړى دى، چې کلونه کلونه به افغانان ښه ورځ ونه ګوري.

ـ دا خو دې ښېخې رښتيا وويل، پوښتنه دا ده چې خلك کله ستاسې ښکاره جنايتونه ګوري، خو حکومت درته هېڅ هم نه شي ويلاى، چې د دې راز په څه کې دى؟

ـ ما خو درته مخکې وويل، چې د هر يوه جاسوس بادار ډېر پياوړى دى، دا خو د هغوى برکت دى، چې موږ سرې سترګې ګرځو او څوك راته پورته نه شي کتلاى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ چې دا حال وي، دلته به سوکالي راشي؟

ـ هههههههه زه افسوس کوم، چې داسې کمزورې پوښتنه دې وکړه. یو فعال جاسوس د یوې فرقې پوځیانو نه ډېر کار کولای، شي، خو دلته د مچانو نه هم ډېر دي، د افغانستان په ټولو ادارو کې بې شماره جاسوسان دندې لري، نو اوس ته ووایه چې ارامي به راشي؟!

ـ تاسې به ښه خوشاله یاست، چې په داسې یوه بې پوښتنې هېواد کې ژوند کوئ؟

ـ افغانستان زموږ لپاره له جنته کم نه دی، په نورو هېوادونو کې یو جاسوس په ډېر تکلیف سره ساه ایستلی شي، خو دلته د خدای کرم دی، چې تر ټولو عزتمن انسان جاسوس وي، هزار بار شکر.

ـ یوه سخته پوښتنه، که خپه کېږئ، نه؟

ـ مهرباني ورورمه! چې هر څه کوو، کله کله باید رښتیا هم ووایو، اخر ما پورې هم د افغان نوم نښتی دی، په زړه باد مه پرېږده؟

ـ پوښتنه مې دا ده، چې ایا تر تاسې هم په دې ټولنه کې بې ننګه او بې وجدانه انسانان شته؟

ـ مسلمانه! دا خو ډېره اسانه پوښتنه ده، تر موږ ډېر بې ننګه او رذیل هغه خلک دي، چې زموږ پر دسترخوانونو ناست او زموږ چاپلوسي کوي، دا نو تر موږ هم ډېر پست خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اخرنۍ پوښتنه، څنګه کېدای شي، چې زموږ هېواد ته سوله او نېکمرغي راشي؟

ـ تر هغه چې د دې هېواد ټول جاسوسان په حضوري چمن کې په دار ونه ځړول شي، نو بل هر ډول کوښښ په هوا کې د لامبو وهل دي.

ـ یاره جاسوس صیب! له دغې رښتینې مرکې نه دې ډېره مننه، ایله دې زما د زړه تناکې لرې کړې؟

ـ تاسې نه هم مننه، هر وخت چې مو زړه ډك و، بې وېرې راتلای شئ، زه جاسوس یم، خو یو ریالېست جاسوس، اخر دا هېواد خو پر ما هم څه حق لري کنه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه خو ماستر يم

نن مې بيا هغه ورځ رایاده او یوه عجیبه خندا راغله. کله کله ګوره له ځانه سره یوازې خندا تر شریکې ډېره خوند ځکه کوي، چې دا رښتینې وي. نورې خنداوې کېدای شي، تصنعي وي او د یوه چا د خاطره په کې انسان خپله خوله ښايي برناحقه چینګه کړي.

فتح خان ښه هلك و، خو د اخره پورې په دې ونه توانېد، چې تر دولسم ټولګي پورې د کتاب متن سهي ولولي او یا هم داسې لیك وکړي، چې څوك دې پرې پوه شي، خو یو څو ښېګنې یې درلودې، دنګه ونه، پاکې جامې او په شونډو کې موسکا.

کابل ته په راتګ سره مې یوه ورځ سترګو ته نېغ ودرېد، خبر شوم، چې هغه هم د خپل کور سره تشریف راوړی دی، اوس د اولادونو خاوند او همدلته اوسېږي. د اوسېدو د ټکي سره په دې فکر کې شوم، چې په کابل کې اوسېدل، خو داسې اسانه نه دي، ځکه په اوسني وخت کې چې دې څلور پنځه کماله زده نه وي او یا هم په یوه اقتصادي مافیايي بانډ کې د ګډون اعزاز ونه لرې، نو ګرانه ده، چې د فتح خان غوندې یو کمزوری دولسم ورکی موجود دې د کور کرایه هم ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دومره اوزګار نه وم، چې د فتح خان غمونه دې وتلم، خو د دوستۍ داسې مزې وي، چې د اړيکو له اخوره ترې څوك په اسانۍ نه شي شړل کېدای.

په بله ورځ مې له يوه بل چا نه د فتح خان د ځای او ژوند پوښتنه وکړه، هغه راته په قوماندانې انداز وويل:

ـ فتيګی خو اوس هغه فتېګی نه ، په رښتينې فتح خان دی. خپل کور، لوکس موټر او داسې علمې دنده، چې ته خو يې رانه والله که په شلو کلونو کې هم وګورې.

سنجيده شوم:

ـ هلکه ريشخند مه وهه، چې خبر ترې نه يې، نو ستا خندا خو مې والله که پرې لورېږي.

سړی په غوسه غوندې شو:

ـ وروره ريشخند خو ته وهې، چې يقين دې نه کېږي، اصل کې ته پخپله د هغه پورې خاندې او يا لکه چې دا دې پرې نه لورېږي؟!

ـ خبره داسې نه ده، زما پخوانی دوست دی، زه به پرې ولې خپله کېږم؟ خو تا چې څه وويل، داسې ټوکه غوندې راته ښکاره شوه.

سړي ته زما خبرو خوند ورنه کړ او په توندۍ لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم ګرم نه وم، حیران دې ته وم، چې څه باندې یو کال مخکې مې په پېښور کې لیدلی و. الف ته یې بو وایه، د عقل په مرسته یې د ژوند د ښه کېدا هم کوم څرك نه و.

خدای شته، پرې خوشاله شوم، زړه کې مې ویل، چې ژوند په منډه نه په ټنډه دی، کېدای شي، خدای پرې مهربانه شوی وي، خو که په زده کړه او پوهه شي، نو د ژوندانه اسانتیاوې خو به ترې د تل لپاره مروري وي.

د سړي خبرو مې پر زړه یو نوی اغېز خپور کړ، مخکې که به مې اونۍ کې یو ځل یادېده، اوس نو یې د یادېدو ګراف درې ځله لوړ شو.

بدمرغي دا وه، چې ما سره د فتح خان شمېره هم نه وه. د دوستۍ تړون له یوې خوا او د هغه د لویې دندې او ښه ژوند کیسې یې لا زما د لیدو تلوسه ورځ تر بلې ډېروله.

بله ورځ د ښار په یوې څلور لارې کې پلی روان وم. نابېره مې بیا را په یاد شو، خو رښتیا چې کله کله د انسان شپږم حس هم په ناخبرۍ کې کار کوي. په سوچ کې روان وم، چې مخامخ راسره یو څوك داسې سینه په سینه ټکر شو، لکه له قصده چې یې دا کار کړی وي. چې سترګې مې پورته کړې، نو یو ډېر لوکس کس مې مخې ته موسکی په ډېره لوکسه دریشۍ کې ولاړ و. د سړي ږیره او بریت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، او حتی تر وروځو پورې هم د اوسنیو ښځینه هلکانو په څېر ډېر منظم و. په موسکا یې راته وویل:

ـ لکه چې ودې نه پېژندم؟

ـ خدای مې دې نه غلطوي، داسې د فتح خان غوندې راته ښکارې.

سړی په خندا شو:

ـ د فتح خان غوندې نه، پخپله فتح خان یم.

په مینه مو غاړې ورکړې. د خبرو اترو پر وخت یې د سلیقې تر اغېز لاندې وم. دواړه ډېر خوشاله شو. اخر مې ترې د دندې پوښتنه وکړه:

ـ په تعلیمي نصاب کې دنده لرم د نصاب غړی یم.

د ماشومانو غوندې مې ورته وویل:

ـ ګوره ټوکې مه کوه!

څنګه هغه د دولسم ټولګي شهادتنامه دې واخیسته که نه؟

سړی لږ سنجیده شو:

ـ ما خو ماسټري هم کړې ده، اوس ماسټر یم. زموږ اداره کې چې څوک ډاکتر یا ماسټر نه وي، دنده چېرته ورکوي؟ وایي چې په ۲۴ ساعتونو کې هوښیار انسان هم یو پنځه دقیقې احمق کېږي. زه لومړی غلی شوم او بیا خدای د زړه له تله خندا راوسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتح خان باندې مې خندا ډېره بده ولګېده، نږدې همداسې روان شوی و، خو په غوسه یې وویل:

ـ ته لکه چې ما پورې خاندې؟!

د سترګو اوښکې مې پاکې کړې:

ـ زه تا پورې نه، د نصاب پورې خاندم. ته خو ماشا الله ماسټر او د هېواد ویاړ او د اوسني تعلیمي نظام کدر یې!!

فتح خان سپږمې نورې هم تروې کړې، خدای پاماني یې وانخیسته. خو د تګ پر وخت مې د ښښنې په انداز ورته وویل:

ـ خدای دې تا د دې هېواد د بچیانو له سره نه کموي، ستا فیوضات دې خدای د دې هېواد د تعلیمي نصاب له ګلستانه نه کموي. دا خو ستاسې غوندې خلکو برکت دی، چې د افغانستان تعلیمي نصاب یې د یوې غوره طنزي ټولګې لوړ مقام ته رسولی او له لویو او وړو یې لار ورکه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه ښکلې پټاقۍ یم

چې کله د تلوېزون پر ښیښه راښکاره شي، نو ټول له خوښۍ چغې کړي:

ـ هله ده راغله، چې شۍ! د کور ټول خلك یې سندرې او اداګانو ته غوږ غوږ او خوشاله شي، خو زه له حیرانۍ نه له ځانه سره وړې وړې توبې وباسم. د خدای دې کړو ته حیران شم، چې په ځینو انسانانو کې څنګه په لږ وخت کې دومره بدلون راولي، چې که چا ته یې کیسه د قسمونو سره وکړې، نو هم به باور پرې ونه کړي.

یو کال مخکې چې به هغه کله موږ سره د دفتر په موټر کې ناسته وه، نو په ټوله لار یې بې د خدای له یاد او ذکره بله خبره نه کوله، که کوم ځوان به هسې له ځانه سره وخندل، نو مرخڼۍ به له مخکې سیټ نه په غوسه مخ راواړاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ګوره زه له هغو جنکو نه نه یم. که چا بد راوکتل، نو پوستکی به یې وباسم. له دې سره به ټول د اوسنیو پښتنو غوندې غلي شول.

مرخڼۍ به نه یوازې، په ټوله لاړ اذکار ویل، بلکې پرته له ناغې به په اونۍ کې دوه ځلې روژه هم وه. خدای شته کله نه کله به مې پټ پټ زړه پرې ډېر خوږېده. پړسېدلی زوړ کوټ، خیرن بې مورده پتلون او داسې بوټان لکه لارۍ چې پرې ختلي وي، د هغې د بېوزلیتوب استازیتوب کاوه. هغې سره د ښایست ملکې هم دښمني کړې وه، مخ به یې کټ مټ داسې ښکاره کېده، لکه پیشو چې د نغري ایرې پر سر باد کړي وي، وړې سترګې او بونجۍ پوزې یې بدرنګي لا ډېره کړې وه.

خو اوس، اوس پرې د چا پلار هم یقین نه شو، کولای، چې هغه دې هماغه پخوانۍ مرخڼۍ وي. داسې نازك کمیس چې تخرګونه به یې ترې ښکاره کېدل، په پرتوګ خو یې د پرتوګ ګومان چا نه شو کولی او رښتیا خبره خو دا وه، چې اوس په کې میك اپ جادویي بدلون راوستی و. په سترګو کې اشارې، په اندامونو کې ادا، د الفاظو په ویلو کې نازکي دا هر څه یې داسې زده کړي وو، لکه د مرخڼۍ نیا چې لا د هندیانو په هولي کې کلونه کلونه ګډون کړی وي.

مرخڼۍ په لږ وخت کې دومره مشهوره شوه، چې دوبۍ خو نوره ورته د کوټه سنګي نه نږدې ښکارېده، تلویزونونو پرې جنګ شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ او چې کله به پر ستېج راښکاره شوه، نو د ځوانانو سره به بوډاګانو هم ورته په ټوپونو بسم الله کړه.

د دومره پرمختګ سره سره هغې د سندرو تر ویلو وروسته پټاقۍ تخلص پر ځان ایښی و. د هغې تخلص زما حیراني دوه برابره کړې وه. لومړیو ورځو کې به چې پر تلوېزون راښکاره شوه، نو د هغې د تقوی او دعاګانو وخت به مې سترګو ته ودرېده او داسې به مې انګېرله، چې د مرخنۍ په څېره کې یو ډېر پرهېزګار او با تقوی انسان سندرې وایي، اداګانې کوي، خو اوس چې د هغې د دومره سندریز استعداد او چالاکۍ سره د پټاقۍ نوم اورم، نو حیران په دې شم، چې د پټاقۍ د تخلص پر ځای یې د یوه لوی بم تخلص بر ځان ایښی وی، نو غوره ورته په دې وه، چې د مرخنۍ هر ورون د یوه نومیالي باډي بلډر نه کم نه و. ما داسې فکر کاوه چې د تخلص د غوره کولو پر وخت هر څوك باید لږ تر لږه لومړی له خپل ځان سره دا سوچ وکړي، چې تخلص یې د کړو وړو سره څومره تړاو لري. داسې نه چې یو څوك د پوکنۍ د ټس سره بې هوښه کېږي او پر ځان یې بیا باتور تخلص ایښی وي.

زړه کې مې ویل، که قسمت ورسره کله مخامخ کړم، نو لومړی به ترې همدا د پټاقۍ د تخلص پوښتنه کوم.

د خدای کارونه وو، ډېره موده وروسته یوه تلوېزوني پروګرام ته وغوښتل شوم. زړه کې مې تېر شول، چې کاشکې پټاقۍ هم راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. غونډه روانه وه، چې په يوې برخې کې يې پټاقۍ د سندرې ويلو لپاره راوبلله. د سندرې نه يې په ليدو ډېر خوشاله شوم.

د غونډې په پای کې مې په چل چل کې ځان ورورساوه. کور يې اباد پخواني وختونه يې په سترګو کې و، د اداګانو په جامو کې نغښتې روغبړ يې راسره وکړ، خو سره له دې يې ځانګړې کلانکارې کوله. د هغې دا حق و، چې ځان لوړ وګڼي، ځکه اوس يې ډېر لوی لوی رئيسان، پانګوال او د ادارو مشران د صحبت او انډيوالۍ تږي وو. د خبرو په يوې برخې کې مې ترې وپوښتل، که خپه کېږې نه، يوه پوښتنه درنه کوم!

په ځانګړې ادا يې وېښتان خپل مخ ته وشيندل او په خندا يې وويل:

- سولېدلی صيب ګوره ته ډېر وران يې، سخته پوښتنه به نه کوې؟

ورته ومې ويل:

- سخته به نه وي، خوښ يم، چې ماشا الله ډېر پرمختګ دې کړی، خدای مو اخره خاتمه ښه کړه، خو د دومره پرمختګ سره دې ډېر وړوکی غوندې تخلص پر ځان ايښی، دا پټاقۍ بدلوی نه شې؟

لومړی لږه خندا ورغله، خو بيا سنجيده شوه:

- دا تخلص ما پخپله په ځان نه دی ايښی، دا خلکو راکړی. د خلکو مينې ته څنګه په سپکه وګورم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیران شوم:

ـ خلکو ښنګه درکړی، خلك دې خدای خوار کړي، چې ته یې پتهاقی کړې؟

بیا خندا ورغله:

ـ سولېدلی صیب! دا خو زما د یوې سندرې لومړی بیت دی. د خلکو دومره خوښ شو، چې اوس راته ټول له ډېرې مینې پتهاقی وایي.

ـ عجیبه ده، دا خلك هم عجیب مخلوق دی، خو که هغه بیت راته ووایې، نو ما به مې جواب پوره موندلی وي.

د لاس د سرو بنګړی یې په بل لاس ونیو:

ـ حیران دې ته یم چې تا غوندې مشهور شاعر او فرهنګي انسان تر اوسه زما دا شاهکار سندره ښنګه نه ده اورېدلې؟!

ـ ببښنه غواړم، خیر دی اوس یې ووایه! بل ځل به داسې نه کوم.

ـ سندره داسې ده چې :

ډبله غوندې ښکارم خو په زړه باندې نری یم

زه ښکلې پتهاقی یم زه ښکلې پتهاقی یم

له ناکامه مې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې پخپله په دې خوشاله یاست؟، ځکه پټاقۍ خو یو وړوکی غوندې درز هم کوي.

خندا ورغله:

- پټاقۍ نوره توره وي، که سپینه؟! چې کله خلکو کې رابنکاره شم، نو هغوی داسې شي، لکه انفجار چې مې په کې کړی وي، خو زما انفجار خلك نه وژني، بلکې بې هوشه کوي یې. نو اوس ته وو ایه، چې زه پټاقۍ یم که نه؟!

ورته ومې ویل:

- با الکل چې پټاقۍ یې، خو ما ته اجازه راکړئ، هسې نه چې زه دې هم د پټاقۍ په مجروحینو کې حساب شم!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلاکاري یاني پساتېزم

سقراط ویلي (د یوه هېواد سیاسي واك باید د داسې یوې شورا په لاس کې وي، چې غړي یې حکیمان یاني فیلسوفان وي). د اسلام دین هم په شورا یا سلاکارۍ تاکید کړی او د عقل هم دا غوښتنه ده، چې په سختو او مهمو مسایلو کې باید له یوه چا سره سلا وشي.

د یونان د دغه لوی فیلسوف موخه دا وه، چې سیاسي واك باید د یوه هېواد د داسې غړو په لاس کې وي، چې په سیاست کې له نورو خلکو پوه او د دې وړتیا ولري، چې هېواد په ښه توګه اداره، عدل تامین او خلکو ته سوکالي او نېکمرغي په برخه کړي.

رښتیا هم کله نه کله په سیاست کې داسې څه رامنځ ته کېدای شي، چې پخپله د یوه هېواد مشر په یوازې ځان نه شي کولای، چې پرېکړه وکړي، له همدې امله اړ وي، چې د ټولنې د تجربه لرونکو او پوهو خلکو سره مشوره وکړي او د ستونزو د حل لپاره مناسبه لار پیدا کړي.

سره له دې چې زموږ د هېواد په تېرو حکوتونو کې د سلا کار یا مشاور په نامه کوم رسمي پوستونه نه و او نه هم کله په ناپامۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم چا د سلاکاار نوم اورېدلی و، خو له نېکه مرغه د کرزي صيب د حکومت په راتلو سره د سلاکارانو بازار دومره گرم شو، چې له رسمي پوستونو نه د سلاکارانو شمېر ډېر او دا دی تر نن ورځې پورې يې لړۍ ښه په درز کې روانه ده.

اوس هم که چېرته د ولسمشر د ډېرو بوختياو له امله په مناسبو ځايونو کې د گوتو په شمېر سلاکاران وټاکل شي، نو څه بده خبره نه ده، خو پوښتنه دا ده، چې سلاکار په رښتيا هم د سلاکارۍ وړتيا لري، يا يې ټاکل اړين دي؟!

له بده مرغه په اوس وخت کې ډېری سلاکاران داسې خلك وي، چې هغه د چا د خبره يو ته بو وايي، خو د تېرو څوارلسو کلونو راهيسې همداسې لېونيان او بې احساسه، حتی مسلکي غله د سلاکارانو په پوستونو کې ټومبل کېږي.

پوښتنه دا ده، چې دا کار ولې کېږي؟

ځواب يې ساده او هغه دا دی، چې د سلاکارانو نه ولسمشر يا نور چارواکي ډېر مجبور وي. د سلاکار په پوستين کې دغه ننوتي خلك يا جنگسالاران وي او يا هم د شتو يا داسې وسيلو خاوندان وي، چې چارواکي يې د خپلو گټو لپاره پر دندو گوماري.
د دغو خلکو بې علمۍ، ناپوهۍ او نه مسلکيتوب ته چې ولسمشر يا بل چارواکی وگوري، نو په يو ځای کې هم نه شي فټ کېدای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه یې د سلاکارۍ قالب ته ورننباسي. دا نو داسې قالب دی، چې نه په کې زده کړو ته اړتیا شته، نه سپېڅلتیا ته او نه هم احساس ته.

عام ولس چې کله د یادو خلکو کارنامو او تاریخي شالید ته وګوري، نو د نورو ناخوالو سره د اوسنیو نظامونو دې کړو ته هم ګوته په غاښ شي او دا فکر ورسره پیدا شي، چې که چېرې په اوسني دولت کې د هر یو سلاکار میاشتنی معاش درې زره ډالر وي، نو ټولې اتلس میلیونه افغانۍ شوې. که له همدغو افغانیو نه یوې یوې کورنۍ ته د میاشتې لس زره افغانۍ ورکړل شي، نو اتلس سوه کورنیو ته بسنه کوي او زرګونو وږو او بېوزلو انسانانو ته یې خیر رسېږي. هغوی له مادي او روحي ستونزو خلاصېږي، عدالت تامینېږي او د روانې بې عدالتۍ د یوې برخې مخه نیول کېږي.

خو دریغه، نه په حکومت کې دا فکر شته او نه هم ډېری سلاکاران دا احساس لري، چې دغه ناروا معاش په دغه ناپوهۍ او بېکارۍ کې چې ټوله ورځ د باډیګارډانو په څېر په مېلمستیاو کې ګرځي، وانخلي. ځکه نو سلاکاري د نوي پسات یوه نوې بېلګه ده او په پوره سپین سترګۍ ورته حکومت او هم سلاکار د مشروعیت خلته وراغوستې او هغوی په کې په مړه ګېډه د مړزانو په څېر د ملت دانه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شامي قبر

ناڅاپه مو په دفتر کې شور او ځوږ شو. د د فتر له کړکۍ چې مې سر وربښکاره کړ، نو خلکو د زخمیانو په تذکره کې صاحبزاده صیب راروان کړی و. پنځه دقیقې به لا تېرې نه وې، چې په لویه خونه کې یې د یوه بشپړ مړي په څېر کېښود او خلکو یې د زړه په مښلو پیل وکړ.

د صاحبزاده صیب کړه وړه د یوه ربښتیني مړي و، له مخ نه یې د ژوند تازه ګي الوتې وه او داسې ښکاره کېده، چې ساه به په کې نه وي. د دفتر همکارانو یې د ژوندي کېدو خواري کوله، خو ما ته یې یو نیم درجن ماشومان سترګو ته ودرېدل او په زړه کې مې داسې دعاګانې ورته کولې:

ـ خدایه په خپل قدرت په کې ساه پیدا کړې. ماشومان به یې څه کوي. دې خوارکي خو به، چې کومه ورځ بانجان واخیستل، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره بـه ورتـه خوشـاله و، خـو اوس بـه يـې کـورنۍ د تـدفين او مراسمو لپـاره پيسې لـه کومـه کوي؟! د مړي خښـول، خو هم د بې عدالتۍ په دې پير کې کومه اسانه خبره نه ده. خدايه ته يې په خپل حکمت خپلو ماشومانو ته بيا راژوندی کړې.

زمـا لاد د عاګـانو لـړۍ سر تـه نـه وه، رسـېدلې، چـې د صـاحبزاده صيب له خولې نه ورو وويل شول:

ـ شامي، شامي!

د شامي د ټکي په اورېدو د ټولو پرمخونو د خوښۍ څپې راښکاره شوې. په زړه کې مې تېر شول، چې صاحبزاده صيب د کم معـاش لـه امله په مياشتو مياشتو غوښه نه شوه خوړلې، کېدای شي، چې پـه کوم واده يا ختم کې يې د شامي کباب خوړلو د کولمو غريبانـه او کمزوري سېستم ورخراب کړی او ننني تکليف ورتـه لـه همدې نـه پيدا شوی وي.

د هغه د پښو د مښلو لړۍ لاهمداسې روانـه وه، چـې تـر درېيم ځلي شـامي ويلـو وروسـته يـې سـترګې وغړولـې. لـږه وروسـته يـې وړه موسکا وکړه او ورپسې يې د خپلو لمونځونو او نفلونو لـه برکتـه سر راپورته کړ.

يوه ملګري اتومات په خوله کې جېنسېنګ انرژي ورواړولـه او لا يـې پوره نه وه، څښلې چې صاحبزاده صيب بالکل نورمال شو. مـوږ ټـول د هغه په رغېدنه د زړه له تله خوشاله شو، د تخرګونو نـه مـې لاسـونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلاندې کړل او خپلې کوټې ته مې بوت او پر چوکۍ مې د يوه نوي وزير غوندې په احتياط کېناوه.لږ وروسته مې ترې وپوښتل:

ـ انشا الله اوس خو به صحت ياب يې کنه؟

يوه شرمېدونکې موسکا يې وکړه. الحمد لله. خو تاسې راسره په تکليف شوئ!

ـ تکليف دې سر وخوري، خو چې ته بېرته خدای خپلو ماشومانو ته جوړ کړې.

ـ بس د همدې ماشومانو لپاره راباندې داسې لوبه وشوه.

حيران شوم:

ـ د ماشومانو لپاره څنګه؟! موږ خو ويل چې شامي کباب ځپلی يې.

په لږ څه شرمېدونکي ډول:

ـ شامي کباب مې په سترکو نه دې ليدلی، مسلمانه نږدې په رښتيا هغه جهان ته رسېدلی وم.

زه نور هم حيران شوم:

ـ ياره صاحبزاده صيب! په موږ خو دې له وېرې مرګ تېر کړ. ماشومان دې راته سترګو ته نېغ ولاړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د همدې ماشومانو د لاسه خو نږدې برناحقه مړ شوی وم. پرون راته د یوه تلوېزون د یوې خپرونې مسوول زنګ وهلی او ما هم ورسره منلې وه، د قبر یوه خپرونه کې نن د قبر مېلمه وم.

ـ د قبر مېلمه؟! خدای دې د هغوی کور وران کړي، دلته خو بې له هغې هره ورځ خلك په خپلو وینو کې لامبي، ټول هېواد مو له یوه لوی قبر نه کم نه دی. په کار ده چې د ژوند سره د مینې لپاره خپرونې جوړې کړې، یاره صاحبزاده صیب عجیب څه اورم؟!.

ـ په لومړي سر کې خو زه هم همدې فکر کې وم. دا یقین مې و، چې دې خلکو د قبر پروژه یوازې د همدې لپاره اخیستې چې افغانان کاهل او بېکاره کړي، که په چا کې د ژوند لپاره لږ څه هم پاتې وي، په دې ډول خپرونو یې ترې وتروړي، خو بس مجبوریت بد شی دی.

ـ ولې هغه کوم مجبوریت و، چې تا ورسره ومنله؟

په خپل تندي یې لږ لاس راتېر کړ:

ـ یاره یو نیم زر افغانۍ حق الزحمه یې ورکوله. زړه کې مې وویل، چې هر څه وي، د کور یوه سوړه خو به پرې بنده شي.

زړه کې مې وویل:

ـ چې یو انسان په کلونو کلونو په یوې موسسې کې کار وکړي، وړیا جمعې هم ورکوي او بیا د یو نیم زر افغانیو لپاره یو ساعت په قبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کېښني، نو تر دې به بله لویه بې عدالتي د ډالرو په دې تالان کې چېرته وي؟!له اسویلي سره په ګډه مې ورته وویل، ښه کیسه کوه!

ـ سره له دې ما داسې ګڼله چې یو مصنوعي قبر به وي، په خوا کې به یې ناست یم. د قبر دعاګانې، سورتونه او مسئلې خو مې بې له هغې هم زده دي، یو ساعت خپرونه ده، خدای به یې تېره کړي.

خو چې ورغلم زما ګومان غلط وخوت. د تلوېزون د ودانۍ په لاندې برخه کې یوه تیاره خونه وه، په تمامه مانا یو رښتینی قبر چې شاوخوا یې خاوره پرته او هر څه تیاره وو، زما د راتګ انتظار کاوه. سم له واره یې په داسې حال کې په کې کېنولم، چې درې کمره والې راته پاس ناست او زما یوازې په قبر کې سر ښکاره کېده. دغو د ظالم زامنو د قبر شاوخوا یو څو شمعې هم بلې کړې وې. لږ وخت وروسته یې نکیر منکر راولېږل. د هغوی انداز هم ډېر هیبتناك او له وېرې ډك و. له ما یې پوښتنې پیل کړې. د ځوابونو د ورکولو پر وخت مې روحي حالت شېبه په شېبه خرابېده. سره له دې چې ما ډېر مړي لمبولي، خو داسې لوبه مې کله نه وه لیدلې. د پوښتنو او ځوابونو دې لړۍ ډېر دوام وکړ، په اخرو شېبو کې خو خپل ځان راته یو مکمل مړی ښکاره کېده په خپلو راتلو ډېر پښېمانه وم، خو د تېښتې چاره نه وه، همدې وخت کې مې هم یو نیم زر افغانۍ سترګو ته ولاړې وې. د سوال ځواب د لړۍ په خلاصېدو مې زړه خوشاله شو، خو همدې کې راته ډایرېکټر له پاسه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ حالی دیګه فاتحی خوده بیګه!

د سورت په ویلو چې مې ښنګه پیل وکړ، نو وار په وار مې خپل حواس له لاسه ورکول. خپل یو یو ماشوم مې سترګو ته ودرېد. د هغوی جامې، څپلۍ، قلمونه او کتابچې چې کله هم ما ورپوره نه کړل.

خو سره له دې به مې زړه راټینګ او یو نیم زر افغانۍ به مې سترګو ته ودرولې. په وسو وسو مې د سورت ویل پای ته نږدې کړي وو، خو د قبر تیارې او د خپل ځان د فاتحې اخیستلو کار مې نوره په زړه تیاره راوسته. چې ومې کتل نو یو لاس رااوږد شو، په موټي کې يې یو نیم زر افغانۍ ما ته رانږدې کړې، تر دې وروسته نو زه نور په ځان نه یم پوه شوی، ښايي همداسې شا ته بې هوښه لوېدلی یم. خو ښه ده، چې لحد نه و، قبر شامي و، ګنې اوس به مې په رښتیني د دنیا کړاوونو ته خپل واړه بچي یوازې پرېښې وای!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاالهانده مخلوق

د مخلوقاتو نوم ډېرو خلکو له کوچنیوالي اورېدلی، خو د مخلوق پېژندل، مورږ غوندې خلکو ته چې خپل ځان نه پېژني، تا او خدای ځومره د ریشخند خبره ده؟!

چې رښتیا درته ووایم، زه نه د بیولوژي کوم عالم او نه هم د حیواناتو څېړونکی یم، چې پر مخلوقاتو دې خبرې وکړم، خو مجبوریت بد شی دی، کله نه کله د زمانې ناخوالې له چېنې نه جنرال او له یوه لېوني نه یو لوی چارواکی او سیاستوال هم جوړولی شي.

د مخلوقاتو په برخه کې ښايي زمورږ د هېواد اوسنیو نړیوالو څېړونکو په زړه پورې لیکنې کړې وي، خو دلته زه هغه مخلوق یادوم، چې د اوس لپاره د ځمکې پر سر اوسېږي او د شهرت بازار یې د افغانستان د جګړو په څېر تود دی.

په دغه مخلوق کې عجیبې څېرې شته، پلن خیتې، غونجاګان، برېتور، بونډی ږیري، څڼه ور، ګنجي او حتی ځینې د بشپړو لېونو په څېر.

د څېرو سره یې هم زما کار نشته، ځکه هر څه چې دي، د خدای مخلوق دی او د خلقت پورې خندا د دنیا او اخرت دواړو سزا لري، نو ځکه دې خدای ترې مورږ او تاسې وساتي، امین، ثم امین.

په اصل کې زه هم ګرم نه یم، د دوی اعمالو زه نور لېونتوب ته نږدې کړی یم، ځکه نو اوس په دې باور یم، چې دغه لاالهانده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلوق له موږ لار ورکه کړي، نو چې دا مجبوریت وي، دا زموږ د ډموکراتیك حق دی، چې شکایت ترې وکړو.
خو یوه خبره ده، که د دوی انرژي ته وکتل شي، نو دا مخلوقات چې فعلاً د انسانانو په بڼه راڅرګند ېږي، د ستاینې وړ ځکه دي چې په یوه ساعت کې د کابل په دې ګڼه ګوڼه کې په ډېرو ځایونو کې راښکاره کېدای شي.
دا یې هم بلا پسې، اصلي موضوع د دغو ښاغلیو او آغلیو هغه اظهارات دي، چې کله نه کله یې قسم په خدای سړی په بېخ او سر نه پوهېږي. د خدای دغه مشهور مخلوق یوه ورځ د یوه کار د کېدو لپاره داسې رمباړې وهي، چې له وښکو یې ځګونه په غرغړو وي، خو په بله ورځ یې بیا له خپلو خولو نه ځمبورك توپونه جوړ کړي وي او په مخالفت کې یې داسې ډزې کوي، چې په باروتو کې یې یوازې د همدوی د ورانې کلا شاوخوا پته وي. د دغو هوایي مخلوقاتو بله ډله داسې ده، چې تر یوه ساعت تقریره یې که وینا فلتر شي، نو په خبرو کې به یې د نسکو د دانې په اندازه یوه ګټوره یا نوې ذره هم ثوك په سترګو ونه ویني.
تر ټولو په زړه پورې خبره دا ده، چې ځمکې ته راغلي دا جنابان د نړۍ د ټولو کارونو متخصصین دي، له ترکاڼۍ، طبابت پوځي وړتیاو، اقتصاد نیولې د نړۍ تر سیاسته پورې په هر څه کې په لایتنهایي کچه دوی نظر ورکولی شي، خو ترټولو د حیرانتیا کمال یې دا دی، چې دغه ګروپ د دې وړتیا لري، چې له یوه کلینر یا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور تنبل نه هم په لږه موده کې افلاطون یا ارسطو جوړ، دریشي ورواغوندي او نېکټايي يې په مرۍ کې د خپل عقل غوندې په غاړه کې راځوړنده او د ځانونو په څېر يې کړي.
خبره لنډه ښه ده، د دغو مخلوقاتو ځينو څېرو نور د افغانستان د خلکو نه لاره او ګودر ورك کړی دی. په میلونونو بېوزلي خلك يې په خپلو پرتو او د ملي ګټو پر ضد وېناو او ګډوډو تبصرو په رواني ناروغيو اخته کړي دي. دا مخلوق د خپل خارق العاده عقل په برکت د دې هېواد ريښې پرې کوي. خو يوه خبره ده، چې دغه جنابان اصلاح ناپذير هم دي، بې له دې چې ستوني يې د بنګلدېش په ختهو بند شي، بله لار نه لري. خو دا چې له پېښې تېښته نشته، نو خير دی، دوی دې هم زموږ دا مشوره ومني، چې: ای فيلسوفانو! موږ خو په کلونو کلونو ستاسې ټرکونو ټرکونو تقريرونو ته غوږ ونيو خو نور د خدای لپاره موږ په کراره پرېږدئ. ستاسې څېرو ته چې ګورو باور وکړئ، نورې کانګې راځي، دا سمه ده، چې ستاسې اغېزمنو خبرو دا وران هېواد ګل ګلزار کړ، خو خير دی، نورې مو دا مشورې او وېناوې خپلو خلکو ته وکړئ. ستاسې نظرونه ښايي په هوا او فضا کې ډېر ښه پلي شي، د خدای لپاره موږ نور وبښئ او د لومړنيو مهاجرينو د وياړ په ګټلو خير دی، مريخ ته لاړ شئ.
زه ځينې سياسي مبصرين يادوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (امیرخان یار) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# REALIST SPY

## STIRES AND STORIES

BY: HAFIZULLAH TURAB

### د لیکوال چاپ شوي اثار

ورکه (لنډې کیسې)
د پرښتني خواب (لنډې کیسې)
سلګۍ په لوېدیځ کې (لنډې کیسې)
طلایي مرغان (لنډې کیسې)
رومانتیک منیجر (لنډې کیسې او ادبي ټوټې)
ژوندۍ مړې ( لنډې کیسې)
اوښکې (لنډې کیسې) شریکه ټولګه
ریالېست جاسوس ( طنزونه او لنډې کیسې)
پربوتې څېرې ( د تلوېزوني ډرامو ټولګه)
د پړانګ پر ځای ( د تلوېزوني ډرامو ټولګه)
پر ګلاب دې مرغلرې ( شاعري)

### ژباړل شوي اثار

چېرته چې ساه پوه نه وي (انګلیسي)
پر ټولنې ولاړه بیا رغونه ( انګلیسي)
د افغانستان اوسنۍ او پخوانۍ پولې (دري)

### ناچاپ اثار

ارمان ( د هند یونلیک)
د ګلاجان مادورې (تلوېزوني سیریال)

### ډرامې شوي اثار

پر خدای یې وسپاره
محلونه
څېې
پربوتې څېرې
د رڼا پر لور
کویټه انستیتیوت
تور زهر
دنیا
پښتنه
زنځیرونه
شک
سلام دیارلس برخې سیریال
خپلې مټې
او نورې لنډې ډرامې

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۴۲

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**